# ورابانې

## شعري ټولګه

# خالد ريحان

هغه کتابونه چې سمسور ووبپاڼې پرليکه کړې او يا يې پرليکه کوي، نور څوک يې پرليکه کول اجازه نه لري

WWW.SAMSOOR.COM

سپېڅلی ماحول، نیمه شپه ، حرم و او سپوږمۍ وه
د نور په پلوشو کې ورک عالم و او سپوږمۍ وه

زړګی مې په طواف کې په مرمرو رانه پرېووت
له پاسه پرې دنیا ایښی قدم و او سپوږمۍ وه

قربان مې ورنه زر جامه د بنګو او سوما کړل
په غاړه اړولی مې زم زم و او سپوږمۍ وه

یو یاد د هاجرې د سوو منډو خیال ته راغی
په تنده کې غزل مې تری تم و او سپوږمۍ وه

نرګسو ، ګلابونو ترې د روح لپې کړې ډکې
له ستورو وریدلی پرې شبنم و او سپوږمۍ وه

له شونډو به مې نوري التجاوې راستنې شوې
چې سوال به د وطن راته اړم و او سپوږمۍ وه

د روژې پنځلسمه ، مکه معظمه چې د عمرې ته تللی وم چې شاعر شرافت میاخیل هم راسره و.

که هر څو ښکلي کتار لکه بانه دي
بس په سترګو دومره بار لکه بانه دي

ستا د حسن په اسمان کې مې خيالونه
ستا د سترګو په مدار لکه بانه دي

ارمانونه مې ديدن ته منتظره
د نظر په نري تار لکه بانه دي

د شهيد وطن په ياد مې غزلتوري
پرېمينځلي وار په وار لکه بانه دي

سترګګونو يې زړګی رانه چور کړی
ښکلي ښکلي ګنهګار لکه بانه دي

د ريحان د انتظار سپيره کلونه
ستا د لارې په غبار لکه بانه دي

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

ستا په کمڅو کې زندګي جوړوم
داغ په زړګي لکه ریدي جوړوم

چې له ماینونو نه کودي جوړوم
په سرو لمبوکې پسرلي جوړوم

سګریټ په شونډو ، سپین مړوند شي رایاد
له شنه لوګي نه یې بنګړي جوړوم

د غزل ناوې د سینګار په خاطر
له پرهرونو نه ځونډي جوړوم

ستا بارخوګان، د ریحان سترګې، غرمه
په سرو سکروټو سپیلني جوړوم

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

په مرغه کې کبل تاڼو اوراخيستي
چې تنکو شونډو د بياڼو اوراخيستي

د ښو په جارو اوښکې پرې شيندمه
په لمن کې مې ګلپاڼو اوراخيستي

د سپوږمۍ ناوې د غره له اسه لويږي
د رڼو ستورو وراباڼو اوراخيستي

ستا د سرو لمبو له تاو ثخه نمروده
د اسمان په غېږ کې زاڼو اوراخيستي

رابهيږي ترې چينې د سرو سکروټو
د دې غره په منځ کې کاڼو اوراخيستي

ماشومتوب مې د بارودو کوت نيولی
اکوبکو، پټ پټاڼو اوراخيستي

د ريحان د خيال په سوي درمنده کې
ښکليه ستا د ښکلا واڼو اوراخيستي

زښته زیات لرم د مینې کتابونه
لټوم په کې سوالونه، ځوابونه

د بابریو شنه قبا مې ده اغوستې
مریدان مې دي نرګس او ګلابونه

ستا څپې څپې یادونه زړه ته راشي
په لیمو ښوري د اوښکو حبابونه

یو په بل کې سره ورکې څلور سترګې
که ډک شوي له کبانو دریابونه

چې تارونه شرنګوي د زړه بې پامه
سترګګونه د پې مخو مضرابونه

چې ریحان درنه الهام د غزل اخلي
د چم ښکلو خدای دې درکړي ثوابونه

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

# چرچوړۍ

د ښار له شور او له غوغا نه ستړی
فکر او خیال مې نا آرامه غوندې
د اضطراب په ګردابونو کې غرق
بس نو روان شوم د کلي په لور
هغه زما د ماشومتوب د خاړپوڅو کلي
د منې یخ د مازیګر پېتاوی
د ښي لاس ګوټ کې چرموړلی د سړې ډوډۍ ټوک
او په کیڼ لاس کې له ابۍ نه پټه کړې ګوړه
له ګولې مخکې به مې
یو ځل په پوزه پرې لستوڼی تېر کړ
هغه ژمي د ځیلې د شپې توده تاوخانه
او د انا د خولې خواږه نکلونه
د تاوخانې په توده غاړه مې پیشو هم پرته
سر یې په کوټ کې ایښی
ترېنه نری نری غومبرا درومي
ښایي چې دې ته به هم

د طالب جان او ګلبشرې لنډيو خوند ورکاوو
زه لاروی د ماشومتوب په دې خيالونو کې ورک
سر ماښام کلي ته ورسېدم
ما وې چې اوس به مې دا ستړی ژوندون
يو څه سکون پيدا کړي
خوشحال په دې وم چې دا نن د برات ښه شپه وله
خو چې مې پا م شو د بامونو په سر
د قلاګا نو د برجونو په سر
تو رې بلاوې ګرځي
د چرچړيو د نانځکو په ځا ی
يې په لاسونو کې نېزې نيولې
چې پرې ټومبلې ګلالي سرونه
او په درځوکښې د اوبو په بدل
سره انګارونه شيندي
په چم د مرګ توره تياره خوره ده
د غره په څوکه د شفق له سترګو وينې څاځي
سپوږمۍ له ډېرې ويرې
له ځانه شپول تاو کړی
ستورې روان دي بدرګه ورسره

دا غرېو نيولي ماشومان د کلي
له دربچو سپيني سپوږمۍ ته ګوري
ورته زارۍ کړي چې زموږ له کلي ژر تېره شه
هسې نه پاڅي د برجونو په سر
دا بلاګاني د مرګ
ستا تکه سپينه سينه
په نېزو غوڅه نکړي
بيا به زموږ په شاني
دا ستا رانېه ستوري هم واړه يتيمان پاتې شي
ما چې دا حال وليدو
بېرته د ښار په لوري وګرځېدم
و يل مې خيال او فکر
په اضطراب کې ښه دي
نه په ګوګل زخمي زخمي پرهر پرهر زړګی

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

قسمته بیا رقیب په خوا کې د دلبر ناست دی
د زړه په سر باندې مې نېغ لکه خنجر ناست دی

ماته د وړانګو په دوربین کې کاینات راښيي
څوک مې د هیلو په غره ګوره لکه لمر ناست دی

د مریدانو په څېر تراشي د غزلو بتان
د تخیل په خانقاه کې مې ازر ناست دی

د زړه دربار ته مې دا نور غمونه وروسته راځي
د جانان غم ځکه تر ټولو په کې بر ناست دی

خدایه پښتیو ته مې خیر کړې چې ماتې نه شي
پېټې د قرض مې پاس په ولو لکه غر ناست دی

له کومه لوري د یار کلي ته ځان ورسوم
په هره لاره کې ریحانه یو لښکر ناست دی

٢٠٠٩ سرروضه، پکتیکا

# د بنګړو شمعې

چې د کلي جينکۍ مې شاعر بولي
لکه اوس چې په رښتياو سندرمار شوم
ښايي دا به وي له هغه وخته راسي
چې مين زه په ګودر او په چنار شوم

خدايه بيا د کلي پېغلې راپه زړه شوې
څومره شوخې جادوګرې وې ريحانه
هر ماښام به درمنده کې وې راټولې
اتڼ چيانې ،نغمه ګرې وې ريحانه

زه به غلی غلی ورغلمه خواته
د دوئ پيڅکې به مې غوټه کړې ماشوم وم
ما به غږ کړ چې ملا د جومات راغی
خو له ځايه نه زه واړو ته مالوم وم

ما به غوښتل چې دو ی منډه کړي له وېري
ترېنه ولويږي رنګين ټيکري په لارې

خو هغوئ به شوې په ما باندې راټولې
چا به خولې رالګولې چا نوکارې

د حيات بابا زيارت به يې په مينه
په سندرو په ټپو باندې لمانځلو
د سپېڅلو مرادونو په بدل يې
په رنګينو رومالو باندې لمانځلو

ځومره ښکلې ښکارېدلې به له لرې
چې رواني به مشکنو ته کتار شوې
شين بخمل به وه غونډۍ ورته اغوستی
دوۍ يې ټولې د مهينې غاړې هار شوې

راستنې به په زېږې مازيګرې شوې
د مشکنو يې په سر باندې کودې وې
غروب وړانګې پرې له پاسه ځځېدلې
را رواني د رنګونو قافلې وې

خو دا پېغلې دغه کلی شو په سترګو
په غونډیو کې درانه بمونه چوي
را رواني سلسلې د جنازو وي
څوک په وینو رنګیدلي وي څوک سوي

وي بې حاله د چوترې په زیء ولاړه
شي د ورور په جنازه باندې راړنګه
د نیم ژوندي غرځنیء په شان یې حال شي
د ښکاري له ډار لوېدلې له ګرنګه

هغه کلی دی هغه پېغلې اوس هم شته
ځیني خواري ځیني بوري خیني وراري
د شهید تر قبر ګردې ګوښې ناستې
له لېمو یې وي رواني اوښکې داري

په سپېره سر به دې څوک لاسونه تېر کړي

په زخمي شونډو يې داسي زمزمې وي
يتيم زوی يې وي په غېږ کې غريو نيولی
کله ځان او کله ده ته په ښېرې وي

چې ماښام له هديرې نه راستينږي
وس يې نه وي د ډېوو او څراغونو
له غربته د بنګړو شمعي کړي بلي
څو شپې وي بس رڼا په مزارونو

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

# و چمو ر ی

هغه ما شوم ته مو ژوندون شوی دی
چي د شهید وروستۍ تحفه یاد یږي
له پیدا ینښت نه چې یتیم شي مخکې
د خورې اذان په ځای یې زړه وغورځي
د تور ټوپک په ډزو
د غورې پردې یې د کارتوسو اذانګو نیولې
چې اوربدلای نه شي
د الاهو للۍ للو سندره
د ( الئ مه رائځ یه غلو ) سندره
بل په ډالۍ کې ګاونډي د جنګ زانګو ورکړي
مار د بارودو د سېزني په څېر تاو شوی ورنه
په سینه ټک ورکوي
شپه کرۍ تېره کړي په کوکو باندې
ته وا چې پروت دی د چړو په نوکو
لکه ما تېرې چې تنها کې د ازغو په څوکو
د کونډې مور یې شیدې وچې شي له ډېره غمه

نه د نرګس نه د غاټول غوندې شي
ماشوم وچموری شي او زمول غوندې شي
د تورو زغرو په سایه کې لوی شي
د نوي جنګ د نغارې د سپېره ډول غوندي شي

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

لکه لاره یم روانه لاره ګورم
په غره خېږمه اسمانه لاره ګورم

دغه روغې د ماینونو په سر وځي
ستا تر کلي به اوس ورانه لاره ګورم

ستا نظر سره نظر غوټه کومه
ستا تر زړه پورې اسانه لاره ګورم

لکه تیر یم د ښکاري په لاس کېوتی
چاته غلی له کمانه لاره ګورم

دا چې دومره دې ستایمه په ټپو کې
کابل جانه تر ایمانه لاره ګورم

په ښو مې رڼې اوښکې اور اورکې دي
په تیارو کې دې ریحانه لاره ګورم

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

ډېر ازغي د ميني مات لرم په زړه کې
دا خوارېه دردونه زيات لرم په زړه کې

د ارمان لپې به ډکې کړم له اوښکو
هم کعبه هم عرفات لرم په زړه کې

په کې بل د ماشومتوب يادونه اور کړي
يو انځور د شابرات لرم په زړه کې

ستا د سترګو د مچيو برکت دى
چې لفظونه لکه شات لرم په زړه کې

د راتلو وخت دې ريحان ته ورمالوم دى
کوي ټک ټک ښوري سات لرم په زړه کې

۲۰۱۱ طايف، سعودى عربستان

لپې دې وي خیر دی جام، منګي، ګړي دې نه وي
روغ مړوندونه مو په کار دي، شنه بنګړي دې نه وي

ماشوم اختر ته مو چې واچوي رنګینیې هګۍ
چرګې ساتو، مېږې، اوښان، وري، اوزګړي دې نه وي

بس د کوچۍ شونډې چې پاکې د بارود له ګرد شي
د سپینو کوچو کتهو ډکه، زېړ غوړي دې نه وي

د ژوند د خوني په دېوال انځور د سولې غواړو
پوري راځوړند ملخي شلخي بوړي دې نه وي

په لونګین مانښام سلام د یار د شونډو واخلو
مازیګري تبې نیولي تک زېړي دې نه وي

په سره غرمه کې په یوه خولګۍ بسنه کوو
ریحانه بار بار د مچکو بابېړي دې نه وي

۲۰۱۰ طایف، سعودی عربستان

د رنځور مین په ځېر مازيګری دی
ګران رابانديې زښته ډېر مازيګری دی

زېړ پتاوي،خړ دېوال ،سپين رېږي نشته
په اور سوی د چم تېر مازيګری دی

د شهيدو پېغلو رنګ يې دی اخيستی
په بمونو کې راګېر مازيګری دی

التفات پرې د شغلو د طبيب شوی
ستا پېزوان سره کوشېر مازيګری دی

د پرديس مابنام په غېږه کې ريحانه
موده کيږي رانه هېر مازيګری دی

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

ستا د غمونو سلسلې دي چې له خوبه یمه
کړې مې ډېري شوګیرې دي چې له خوبه یمه

له زره چاودي انتظاره د بڼو په څوکو
بلې د اوښکو مې ډېوې دي چې له خوبه یمه

ستا د مړو سترګو د یادونو د پېریانو اثر
راکړې ټوله شپه غوټې دي چې له خوبه یمه

له اوبو غړپ سره دې بیا ترخه بارود څښلي
رنځورې ! ستا مې اندېښنې دي چې له خوبه یمه

ستا د ورېښمن مړوند بلا واخلم چې سر پرې ږدمه
ستا له بنګړیو مې ګیلې دي چې له خوبه یمه

یو څه ریحانه د زندان د تنهایۍ وېره ده
څه شرنګېدلې زولنې دي چې له خوبه یمه

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

ستا په هجر کې د اوښکو مې تڼې دي
يون په اور کې د تڼاکو مې پڼې دي

د ګرنېټ بم يې په خوله کې دی چاودلی
ده به کړی وي ګمان چې شنې مڼې دي

تخنوه مې په وجود مې ولاړ اوسه
زه رانجه او ستا پښې تنکۍ بڼې دي

چې د چم پېغلې مې نه اوري سندرې
يا به شور وي د بمونو يا کڼې دي

چې د زړو په کتابونو پوري نښلي
ښکليه سترګي دې رنګينې دوتڼې دي

توری توری يې له اوښکو نه جوړ شوی
چې غزلې د ريحان رڼې دي

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

د جانان غم مې له زړګي څخه رابولي اوښکې
ځکه د سترګو په کاسو کې مې راټولي اوښکې

د التفات مرغۍ دې نه راځي ناترسه یاره
په هر قدم کې مې پرتې دي لکه شولي اوښکې

نه مې په زړه کې ستا د ویر له لاسه سېک پاتي شو
او نه مې پاتي شوې د سرو لېمو په رغولي اوښکې

په جنګ بارودو کې مو ویني ویني ډېر اوژړل
رابه مو کله شي په لپو کې د سولې اوښکې

نور له ریحانه د لامده ګریوان حساب ورک شوی
بس د کابل د پرهرونو یې همزولي اوښکې

۲۰۰۹ قمبر څلورلاري، کابل

جنګ ته تللي ځو وګړي ماښام راشي
ځوک نيم ژواندي او ځوک مړي ماښام راشي

زمونږ په کلي کې يو ځو تنه کړی ورځ
ازغي وکري او ستړي ماښام راشي

سهار پرې کاندو يو خاک په هديره کې
تر جوماته تاوده غړي ماښام راشي

چې د ښکلو ودېدن ته ستر ګې وا کړو
خړ بادونه، سپېرې دوړې ماښام راشي

چې د ستورو په ځېر ځلکا په تيارو کې
په لاسو کې يې وي پړي ماښام راشي

د دهقان غريب تر وس ورسره تېره
هر پټې دی سوړي ماښام راشي

هـــر ســـړی چـــې پـــه دې مېنـــه کـــې حـــاکم شـــي
ککـــړی یـــې تـــر پښـــو رغـــړي ماښـــام راشـــي

شـــپون یـــې پیـــایي د بـــارودو پـــه ورشـــو کـــې
اې ریحانـــه رمـــې رخـــړي ماښـــام راشـــي

۲۰۰۹ سر روضه، پکتیکا

## څلوریزه

د زړه تـــر غـــره مـــې د بېلتـــون ښـــکارزن راورســـېدل
ســـویان د اوښـــکو مـــې د ســـترګو پـــه برغـــۍ کـــې غلـــي
پـــه هـــر قـــدم کـــې لـــه ســـفره زر ســـلګۍ لرمـــه
زر شـــکایته مـــې پـــه هـــره یـــوه ســـلګۍ کـــې غلـــي

زړه مې غلې غلې ژاړي تر سهاره
ستا ديدن له خدايه غواړي تر سهاره

د بېلتون لېوان د زړه ورشو ته راغلل
د ارمان رمې مې داړي تر سهاره

خوبولي دي ماښام ورته کتلي
چې نرګس دربانـدي وياړي تر ماښامه

له بدن ښخه مې ورو ورو تبه باسي
راکوي د خولګۍ لاړي تر سهاره

ښه بلا وه ماسخوتن وطن ته راغله
ابادۍ يې کړلې شاړي تر سهاره

دوه ډېوې د انتظار له برکته
د بڼو په سر ولاړي تر سهاره

په تصوير پسې دي ګرځي ريحان ګوري
غوټۍ ګل غونچې ورخاړي تر سهاره

زخمي زخمي ،سوري سوري او ستړي ستړي زړونه
راځي په اوښکو کې ،له سترګو نه مو رغړي زړونه

موږ يې د لاړو د ګبين له کرامت خبر يو
ځکه مو ښکلو ته په نه بيه ورکړي زړونه

په کښت د مينې د نفرت داسې سيلاب راغلی
ناشونې ښکاري چې راشنه شي لکه زړي زړونه

دا نن دې څه ځوانيمرګ زېری صبحدمه راووړ
سرمانښام وير دې په تېغنو لکه غړي زړونه

د زېرو بم غوندې يې ستايئ چې نغمې ترې وځي
د عشق په لاره کې ببېکاره دي او مړي زړونه

په پوله نه دورمي په شنه پټي کې لار جوړوي
ښايي چې نه لري ريحانه دا وګړي زړونه

۲۰۰۹ سر روضه، پکتيکا

لاس مې سره وي په سرو وينو ترخنګلو
چې ځان وګورم د زغرو په رڼا کې

له جموده مو بلا خوري شاعران يو
ژوند ته ګورو د سندرو په رڼا کې

ايلبندونه پړقېدل چې راختلي
د هيندارو ځونډورو په رڼا کې

د بارودو په لوګو کې برېښېدلي
ستا ليمې د ملغلرو په رڼا کې

ريحان توره بانبه وليده په سترګو
ترۍ تمه د کوترو په رڼا کې

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

# اداګانې

چې خپلې يې د شاعرۍ طبعې پښو کړې
خيال مې لاړ سيفل الملوک شو
ستا د حسن کوه قاف ته
اداګانې دې پرۍ وې لمبېدلې
د رنګونو په تالاب کې
لکه وړانګې له شبنم سره ګلاب کې
لکه اوښکې په لېمو کې
يا تنکۍ تنکۍ څپې وې
ښکته پورته په درياب کې
د مستۍ جامې يې ټولې ترې ولجه کړې
ستا د لوڅو شوخو شوخو اداګانو ښاپېرۍ دي
نوک نيولې قدمونه په رم اخلي
را رواني غلې غلې په خم خم دي
په دې شان ترې پټوي د بدن غړي

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

# مښوکي

تویو مه چې د اوښکو سپین پټوکي
غم مې واړول د زړه د بڼ خروکي

د غومبرو شور یې نشته په بامونو
د کوترو په زړه سرې دي د باز نوکي

مرغکیو ځالي بل وطن ته وړې
هرې بارې ته پراته د مار پستوکي

د بارودو په اورنۍ کې مو پېچلی
د ژوندون ماشوم مو ځکه وهي کوکي

د جنګونو مرغان تږي تږي راشي
د کابل په وینو ډوبي کړي مښوکې

د سیکو خورجین زاهد له چانه وړی
خرڅوي د شهیدانو پرې هډوکي

زمانې تنها ازغي راته کرلي
نشته څوک چې مو تنهاکو ته ورپوکي

په تندي مې د غربت کاڼي خوړلي
مورې کېږده په زخمونو مې زړوکي

د ريحان زړه که دې وليد بيا به واېې
له چړو نه دي تېرې د غزل څوکې

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

په زخمونو کې راټول د خپل وجود يم
په زره داغ لرم غاټول د خپل وجود يم

په خيرات کې توري زغري رارسيږي
يو د جنګ سپيره کچکول د خپل وجود يم

څوک مې سر ګوري څوک لاس او پښې څاري
پروت ټوټه ټوټه کهول د خپل وجود يم

د بارود کلال په لاس کې يم نيولى
لکه زهر تريخ کنډول د خپل وجود يم

سره ژبارم د کابل ژور زخمونه
که ريحانه غزلبول د خپل وجود يم

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

راځه شروع يې کړو له څيري پيراهنه اشنا
زه به شلېدلی ګريوان دروړمه ، ته ستنه اشنا

ځانمرګي سترګې دې زما د زړه کابل کې ګرځي
د خدای د پاره په کې ونه کړې چاودنه اشنا

د بڼو غشي مې د سترګو له کمان در وځي
د شينکي خال نښه دې ايښې ده په زنه اشنا

په غلطۍ کې هم که چا ښکلو ته چپ کتلي
موږ يې ده کړې په شعرونو کې غندنه اشنا

د لمر ختو منظر مو هم شو وېروونکی غوندې
ته وا د مړي مخ راوتی له کفنه اشنا

کړې به چچونکی ستا په شونډو پوري شونډې اخېر
ريحان نيولې د حيات بابا لمنه اشنا

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

د تنهاکو ماتېدل په هر قدم کې
څه خوندونه وي په لاره د صنم کې

کړه ژوندی مې د نغمې په څېر مطربه
يمه ورک د زمانې په زېر وبم کې

د يادونو حاجيان دې ترېي راشي
سرابيږي مې د اوښکو په زمزم کې

چې غزل مې کړي له زړونو غېږه تاوه
عشقه دومره اثر راکړه په قلم کې

ستا د سترګو ابابيل په کې اوسيږي
جوړه ځاله يې زما د زړه حرم کې

د رقيب له ذاته مه راته غرېږه
څه ښېګړه ده ريحانه په لړم کې

۲۰۱۰ طايف، سعودی عربستان

دا غریب چې لا تر اوسه سلامت دی
په کوڅه یې ستا د پلونو برکت دی

لکه پرخه د ګل غېږه کې ژړېږم
په وصال کې راسره غم د فرقت دی

سوي سوي قلقلې د زانو اورم
لالهانده د خیالونو مې الوت دی

لېونی راباندې خوښ یې که مې وژنې
ړنګه بنګه غنمرنګه څه دې نیت دی

زنګ یې هره ورځ د ورور په وینو وینځو
په دا شان کړی د تورو مو عزت دی

د لستوڼي د ګنډلو مو څوک نشته
خو د زغرو راته هر چا کړی ست دی

ښکلو ورو ورو د خوړدې غوندې خوړلی
د ریحان زړه د حیات بابا زیارت دی

۲۰۱۰ طایف، سعودی عربستان

څنګه به اوس ښکل کړي د کورګرو لاس
غوځ دې په مړوند کې د ښترو لاس

ستا په کاغذي شوندو لشې وهي
زما د شوخ نظر د جادوګرو لاس

وېش که د قلم او د کتاب وي هم
مونږه ته رابېرته شي د زغرو لاس

نن درنه خولګۍ په زوره اخلمه
خلاص دې شه اشنا د زورو لاس

جوړ چې کړم د مینې شیش محل کله
پورې کاندي خلک په ډبرو لاس

کاږي تر زړګي مې د ښو ستنې
ستا د مړاوو سترګو د کوډګرو لاس

وکړه لاس نیوی ترېنه مرید یې شه
مه پرېږده ریحانه د سندرو لاس

۲۰۱۰ طایف، سعودی عربستان

چې د بڼو د غشو سر دې په کې ګرو پاتې دی
ځکه تر اوسه مې د زړه په تل کې نو پاتې دی

د ژوند ماشوم مو چې له وېرې نه زبون وهلی
لا په دې چم کې د چنګېز د پیشو میو پاتې دی

لا خو ازغو ته د تنهاکو اوبو خور ورکوم
لا مې د عشق په دې سفر کې د سر دو پاتې دی

د وخت مغل چې ورته بیا په کاڼي لور تېروي
نو خامخا د پښتنو سرونو لو پاتې دی

اوښکې چڼوم پکې سلګۍ ځیني راټولې کړمه
په ګودر غاړه یو غلبېل غلبېل پلو پاتې دی

ریحان له ځایه نه فطرت دی د الف راوړی
ملا یې ماته شه هغه چې درته (و) پاتې دی

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

زخمونـــــه مـــــې راوړي درتـــــه واړه ګلابونـــــه
خـــالي خـــالي اوربـــل تـــه رانـــه غـــواړه ګلابونـــه

د حســـن منکرانـــو لـــه تفســـير د ســـپرلي وکـــړه
د شـــونډو پـــه مســـکا کـــې ســـره ژبـــاړه ګلابونـــه

رقيـــب راوړي ســـترګي چـــې نظـــر دي نـــه کـــړي يـــار
پـــه څـــور شـــه رخســـارو کـــې رانغـــاړه ګلابونـــه

سـيلۍ راغلـه ور ړنـګ بـه شـي لـه زړه نـه بـه يـې وو ځـي
ولاړ دي د تبـــــرو ازغـــــو پـــــه غـــــاړه ګلابونـــــه

ريبـار مـې لـه جانانـه سـره خنـګ پـه خنـګ ګرځيـږي
الله دې ســــــلامت لـــــري دا دواړه ګلابونـــــه

ريحانـــه چـــې د کلـــي هـــديرې تـــه کلـــه لاړ شـــې
ورخـــاړي پـــروا نـــه لـــري بـــس ژاړه ګلابونـــه

۲۰۱۰ قمبر خلور لارى، کابل

د مڼې ترونې لاندې په غرمه کې
وای مو شونډې لاندې باندې په غرمه کې

ما به ښکلي د شفتلو بنګړي جوړ کړل
تا به لیچې کړې را وړاندې په غرمه کې

ته به وایې چې ګلپاڼې په نڅا دي
پښتنې پېغلې چې خاندي په غرمه کې

د بڼو په لور، لوګره غټې سترګې
بس د زړو لوونه کاندي په غرمه کې

خولې مخ، لوګي به نوره ښایسته کړې
الېیل به مو چې (لاندي) په غرمه کې

شې لوخړه به ریحانه سره لمبه ده
که لږ نوره شوه در وړاندې په غرمه کې

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

دا وچـــې پـــاڼي د خـــزان چـــې دومـــره شـــور کـــوي
ښـــکاري د نـــوي ســـپرلي زېـــرى لـــور پـــه لـــور کـــوي

لېـــوني حســـن دې زمـــا پـــه زړه قـــدم ايښـــى دى
نـــاز و نخـــرې دې لا ســـيوا دي چـــې پـــرې زور کـــوي

د لارې ســـر تـــه مـــې پـــه غبـــږ کـــې د رقيـــب لـــه وېـــرې
څـــار دې د ســـترګو لـــه کونجونـــو ســـپين او تـــور کـــوي

قلـــم پـــه نـــه بيـــه دى بيـــا هـــم تـــرې نـــه مـــخ اړوي
خـــو تـــورو زغـــرو تـــه لـــه يـــو ، لـــه بلـــه پـــور کـــوي

څـــار لـــه پښـــتون هـــوډه هـــيڅ چېرتـــه بـــه تـــرې وانـــه وړمـــه
کـــه مـــې هـــر څـــومره پـــه لمنـــه دنيـــا تـــور کـــوي

هـــر نـــوى زخـــم ريحـــان نيســـي د اميـــد پـــه غـــوټۍ
د ســـوځېدلي ګلســـتان خبـــرې نـــور کـــوي

۲۰۱۱ طايف، سعودى عربستان

د امید غوټۍ د زړه پرهار کې ښوري
یوه شنه پاڼه په وچ سپېدار کې ښوري

د غره ټولې ښکلا کوچ ورسره وکړ
د کوچۍ چرګه دا وښ په بار کې ښوري

ستا د رنګ خالونه ږدي په خپلو زنو
سپینې حورې جنتي دیار کې ښوري

یوه اوښکه د پردې راپه نصیب کړې
نه کتار چې د ریا په تار کې ښوري

د سرو سترګو مدرسې ته یې تګ ګران دی
نیغ باڼه یې طالبان دي، ثار کې ښوري

چېرته لاړ شو پل د چا په قدم کېږدو
چې سرونه وو هغه په دار کې ښوري

د ختین کلي بامونه وریادیږي
دا ریحان چې غلی غلی ښار کې ښوري

۲۰۱۰ طایف، سعودی عربستان

خـــدايزده خمـــار دي کـــه بيمـــار خلـــک
روان دي ډېـــر کـــرار ،کـــرار خلـــک

خونـــد يـــې د کلـــي پـــه (شـــوديارو ) کـــې وي
پـــه ګـــوړه څـــه پېـــرې د ښـــار خلـــک

د شـــملو ســـيورو تـــه يـــې ځـــان رســـوم
چـــې راښـــکاره شـــي د دســـتار خلـــک

ماښـــام راغلـــي وو د ســـتورو هـــومره
خـــو ســـهار پـــاتي وو پـــه شـــمار خلـــک

اخـــر يـــې ښـــکل کـــړل د نظـــر پـــه شـــونډو
ښـــکلو تـــه څـــومره وکـــړي وار خلـــک

ســـتا خـــو روزګـــارلـــه شـــاعرۍ ســـره دی
ريحانـــه نـــه يـــې بـــولي کـــار خلـــک

۲۰۱۲ طايف، سعودی عربستان

# د حسن حرم

چې د سترګو په کعبه دې
د زلفانو اطلس پروت وي
او د وریځو ابابیل ورباندې ګرځي
د حبشو ښو شپول ورنه چاپېر وي
له لېمو دې څاڅکي څاڅکي
د زم‌زم څاڅکي راڅاڅکي
روح مې ستا په مرمرین جبین طواف کړي
ستا د خال له هجراسوده ټینګه ټینګه بوسه اخلي
څه سپېڅلی شان منظر وي
خو ناڅاپه رابیدار شمه له خوبه
روح مې بېرته تن ته راشي
هر یو شی رانه فنا شي
فقط یو نوراني عکس مې په زړه باندې وریږي
او هغه وي ستا د حسن د حرم، رامالومیږي.

۲۰۱۱طایف، سعودی عربستان

# شودیارې

سهار د لمر په یوې
د تورې شپې شودیارې واړولې
او زرین تخم یې د وړانګو په کې وشیندلو
سترګې د وریځې ټیکرې مخ ته ونیو
له خوشالۍ نه یې ورو ورو وژړل
په وړانګین کښت یې ښاخکې ښاخکې اوښکې وڅښېدې
طلایي وږي رازرغون شول په کې
کوم شهزاده د پټکي ول لپاره
یا د کوم خوار سپېره بزګر په خاطر
چې درمینده ته یې اخېږ ورکړی
زیږې سپرې طوافونه کوي
پېغلو یو خو کېږدۍ غنم راوړي
د پولې ډډې ته یې ډډه کړې
د چا غمبورې تور دي
د چا په زنه لیکه
د نجونو میرې خپل ماشوم ورور ته برېتونه ایښي.

۲۰۱۱طایف، سعودی عربستان

# د ومانو جنازې

په ازغيو کې مې يون لندې بڼې دي
پښو کړې د زخمونو مې پڼې دي

له اسمانه د پولادو ږلۍ اوري
سرې لبمې شوې د ګلونو په بڼ پوري

خود په هره لاره پروت پرې کړی سر دی
چې په وينو لژند تېغ د سکندر دی

د وحشت خپسه ناسته په مرغيو
تکه توره بابښه ګرځي په غونډيو

د چم پېغلې د سندرو ډولې يې ګونګ دی
لګېدلی يې په شونډو د غم زنګ دی

د ستم په ځګو سپينې د نيل غاړې
په قلنګ کې سرې ډولۍ راڅخه غواړې

سرې په وینو د مچړوغزي تنستې دي
چې پرې غوټه د ومانو جنازې دي

بند په بند غوځي نښتري سوې ګرګې
شوې له ډیري ژړا وچې د غره سترګې

د سوځلي زړه په تل کښې مې ده پټه
له پېریو د زرتشت د اور سکروټه

د باران په ځای را اوري د اورکاڼي
لولپه په درمندوکې درنې واڼې

د شیدو په ځای یې راشي له (تو) ویني
ژېړه غوا چې له ناکامه ډډی وینې

په کودي چې سپرغۍ راغلې کوړه کوړه
د ریحان له ګلو پورته شوه لوخړه

۲۰۱۱طایف، سعودی عربستان

چې تر چم تېروي لارې په ماينو کې
ماتې نه شي دا هينداري په ماينو کې

د اجل ورځې شېبه په شېبه شمارو
دي پېړۍ مو را ايسارې په ماينو کې

لاس نيوی مې د جنګو له پيره کړی
ما د مرګ کومې ته سپارې په ماينو کې

سر بداله هغه وخت په ځان خبر شوم
درد راټينګې کړې نوکارې په ماينو کې

سږ به بيا د مرکنډيو فصل اخلو
چې کرلې مو شوديارې په ماينو کې

۲۰۱۱طايف، سعودي عربستان

بیا د غربت په ګرېوانه راڅخېدلی یمه
د سفر اوښکه له بانه راڅخېدلی یمه

د خیال په ګوتو مې راټول ستا د زخمو توري کړل
غزل غزل شومه له زړه راڅخېدلی یمه

پرون دې ګرانې په زړګي لکه باران ورېدم
نن دې د سترګو په ناوه راڅخېدلی یمه

چې د سندرو وچو پاڼو ته مې ساه ورکړې
د تخیل اسمانه ښه راڅخېدلی یمه

لکه زړګی د مسافر د غم له اوښکو نه ډک
په نه خبره په بانه راڅخېدلی یمه

ریحانه بیا د چا د سوي انتظار له سترګو
لکه د شمعې ټوله شپه راڅخېدلی یمه

۲۰۱۰ طایف، سعودی عربستان

وخت مې د دیدن ښکلې شپې راثخه وړي
سترګو کې مې اوركړي لېمې راثخه وړي

ناز د پېغلتوب دې ډېر او زه لكه ساحل
تا ثكه په شاني د ثپې راثخه وړي

لار تر شهید ثلي په تروږمیو کې وهم
ثه سپېره بادونه دې ډېوې راثخه وړي

شیخ په زړه کې ناستې وي بربنډې حورې تل
مات یې شه لاسونه چې پیالې راثخه وړي

غاښ به دې اخېر په لنډۍ زنه کړمه خښ
ثو به دې شیرینې بهانې راثخه وړي

چېري مې ریحانه کړې نه دی د سر غم
ډار لرم چې دا ثلي شملې راثخه وړي

۲۰۱۲ طایف، سعودي عربستان

سر به خوري د زورورو پاچاهي ده
په دې ښار د تورو زغرو پاچاهي ده

د چارقل تعویذ په غاړه ګرځومه
ستا د مړو سترګو کوډګرو پاچاهي ده

بس لنډۍ یې ملکه ورته ټاکلې
په زړګي مې د سندرو پاچاهي ده

ګرځوم یې د ښو په خبر په سترګو
که د لرو که د برو پاچاهي ده

پرهارونه په تندي ورمه ریحانه
لا تر اوسه د ډبرو پاچاهي ده

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

رمې د ستروګو دې وخ ، په کې رنځورې ښکارې
ګرد د بارودو چې دې، د ښو شپول نيولی

ستا د نامه توري مې، په غزلونو څاڅي
ستا د ښکلا جلوو مې، تخيل ټول نيولی

د نبات څآڅکي يو څو ، راباندې ولوروه
د مسکا لپو کې دې ،د خولې کنډول نيولی

د ماشومانو په څېر، ښکلو پرې لوبې وکړې
هغه شيندلی زړه مې، ځيني راټول نيولی

د شرنګېدلو تورو ، لښتې په خرپ ورکوي
ريحان د خيال په غاړه ،د غزل ډول نيولی

څوک ورته نيسي ځولۍ، چا وي کچکول نيولی
خو ما ريحان ښکلو ته، د زړه غاټول نيولی

۲۰۱۲ طايف، سعودی عربستان

د مرګي د ډاله ډنګ راپسي شوی
سور په وينو يمه جنګ راپسي شوی

د ناسور زخم په لپه کې داغ ورمه
د خاټول د نصيب رنګ راپسي شوی

د افسوس تبکی مې زړه خوري لکه توره
چې د چا د وينو زنګ راپسي شوی

د يار کلي کې مې سترګې رقيب ثاري
يو ثه لري خو په ثنګ راپسي شوی

د سندرو بدرګې راپسي درومي
ستا د شنو بنګړيو شرنګ راپسي شوی

چې د خيال ژرنده مې ساتي په ګردش کې
يه ريحانه غمرنګ راپسي شوی

۲۰۱۱ رياض، د ډاکتر دلاور استوګنځی

# چولۍ

د اوړي سره غرمه وه
ډېره توده غرمه وه
مور مې وه ناسته په ختیین دالان کې
ستنه او تار یې وو د اون په لاس کې
زه یې هم خوا کې غلی کښېناستمه
ما ویل څه کړې مورې
دې ویل چولۍ کومه
ستا ناوکۍ لپاره
زه مې له مور سره لګیا وم په خوږو خبرو
له دروازې نه مې ملګري راته غږ را وکړ
ژر کړه راځه د غره په لوري ځو کو چیان راغلي
ما هم په بیړه کې رامنډه کړله
خو ،ښۍ پښه مې په چپۍ پایڅه کښې بنده شوله
د سرای په منځ کې پړمخ ولوېدمه
(وی مخ مې تور شو ) دا اواز مې تر غوږنو راغی
زه روغ رمټ وم ه را پورته شومه

خو د خوږې مورکۍ له ګوتې مې وه ستن ختلې
ښايي چې نن يې و ګوتمو هېر شوی
کاشکې چې نه يې وای ګوتمو هېر شوی

۲۰۰۹ سر روضه، پکتيکا

## څلوريزه

نـــرګس ،غـــاټول ،رامبېـــل چامبېـــل تـــازه ګلونـــه
ريحـــان ،ګـــلاب او رانـــه پـــاتې دي چـــې څـــه ګلونـــه
زمـــا د رنځـــورې لـــيلا ژېـــړ مـــخ تـــه يـــې رنـــګ تلـــی دی
ځکـــه مـــې خـــوښ دي لـــه دې وارو ،غـــورېژه ګلونـــه

ستا په مینه کې څه مسته اوازه یم
د هر چا تر غوږو تللې انګازه یم

نم د اوښکو مې را اوري په ګریوان کې
په یادونو دې تر اوسه لا تازه یم

ما دی څښلی اوبه خور له بورو سترګو
د شهید په قبر شنه لکه خازه یم

التفات دې د غلچک نظر په کار دی
پخلا شوی همېشه په رمازه یم

لپې لپې به مېوه د مینې درکړم
ښکلیه راشه اختریزه دروازه یم

ریحان کله درنه خوله په زور اخیستې
وایه وایه دغه ته یې او دا زه یم

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

تلوسې مې زښته ډېرې کي خوله راکړي
چې کوځې تر نظر تېرې کي خوله راکړي

ورته وايم سبا بيا ګرانې راځمه
بس راغاړي وځي په زېرې کي خوله راکړي

تور پېکي ته چې څنډۀ ورکړي په يو لوري
سپينې لېڅې راچاپيري کي، خوله راکړي

د پردېس زړګي تنهاکي ورښکاره کړم
غلې غلې ګيلې هېري کي خوله راکړي

د نظر تر هوده لاندې ښکلي نيسم
يه ريحانه انکار چېري کي، خوله راکړي

(کي: کړي)
۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

پـــټ یـــو لـــه دنیـــا خـــو دغـــه بـــورې پـــه خبـــرو شـــي
تـــا نـــه چـــې خـــولګۍ واخلمـــه حـــورې پـــه خبـــرو شـــي

څـــو بـــه د محشـــر پـــه ورځ انکـــار زمـــا د خـــون کـــوې
رابـــه دې د ســـپینو لېڅـــو تـــورې پـــه خبـــرو شـــي

شـــکر خـــو پـــه شـــاتو پـــه شـــکرو دی ایســـتل پـــه کـــار
ژبـــه مـــې چـــې ســـتا پـــه بـــاړخو (څـــري )، پـــه خبـــرو شـــي

شـــوخ بـــادار نظـــر مـــې چـــې د خـــولې وعـــده دریـــاده کـــړه
مـــړاوي ټیټـــي ســـترګې دې مـــزدورې پـــه خبـــرو شـــي

ســـترې د بزګـــر کاتـــه اســـمان تـــه بـــې څـــه نـــه ښـــکاري
ګـــوره چـــې اوس څـــاڅکي څـــاڅکي اوري پـــه خبـــرو شـــي

خـــود بـــه نـــو ریحـــان درتـــه هـــک پـــک ګـــوري د بـــت غونـــدې
یـــو ځلـــي چـــې ســـتا شـــونډې مغـــرورې پـــه خبـــرو شـــي

۲۰۱۲ طایف، سعودی عربستان

وهابي کوڅو کې پلونه صوفيانه ږدم
د خيال ژبه ستا د شونډو په خوږه ږدم

په وياله د ځيګرخون يې اودس کړی
د ارمان تندی په زړه کې په سجده ږدم

د يادونو پتنګان دي نڅومه
تر سهاره په لمبو ورته ډېوه ږدم

چې د هرې ورانګې څوکه دې لمده شي
د ګل غېږه کې ژوندون قطره قطره ږدم

د غزل غونډې مې خيال ته غلی راغلي
په قدم قدم کې درته زړه ږدم

هلته هم جانانه ستا غم راسره وي
ريحان کله چې لاسونه په کعبه ږدم

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

ستا د زورورو سترګو زور دی
جوړ یې چې زما په زړه کې کور دی

ړنګه بنګه غېږې ته را ړنګه شوې
ته وا د ساحل څپې انځور دی

کاڼي یې اخیستي په آیینو پسې
مخ یې د بارود په لوګو خړ دی

غوټي یې غړۍ د سرو ګلونو کړې
لاس کې د خزان د سپېلۍ لور دی

ستا له شنو بنګړیو نه الهام اخلي
چم کې د ریحان د غزل شور دی

۲۰۱۲ طایف، سعودي عربستان

## د سينې ورغوی

د (تو ) په ژبه دې ببګا چې غلی غلی ځاځو
زما د سينې ورغوی
وجود مې داسې تخنېدو ، تخنېدو
لکه دهقان وي د خپل (لاندي ) د مړ
خولې ته نيولې لپه
په مينه مينه ورکوي اوربشې

## د ښو ترخې

د زړه په غره مې د غم بم پرېوتی
سويان د اوښکو د لېمو له برغۍ منډې وهي
د ښو ترخې ورنه پاتې شولې

# د زړه جومات

زما د زړه جومات ته
جانانه ستا دحسن
ټول مقتدیان راغلي
خال دې د وریځو له محراب څخه اذان ورکوي
پوه پېچکه دې په ټنډه پرته
داسې ښکارېږي چې امام دی د سجدې په حال کې
د ښو صف دې د لېمو په مصله ولاړ دی

شعر د شعار په کچر رنهر ځي بويه آس د هنر
دغه نازکه ناوکۍ غواړي لباس د هنر

د درد په ګوتو دې غزل چې زړونه وتخنوي
له خپلو سترګو نه په غاړه کړه ګيلاس د هنر

ستا له پيغام څخه منکر نه يم خو دومره وايم
ما ته ښکلا ما ته لفظونه دي اساس د هنر

که دې سندرو ته ښکنځلي وايم ومې بښه
راپيدا شوی دی په ذهن کې وسواس د هنر

چې غزلتوري دي ريحانه مريدان شي واړه
د تخيل په خانقاه کې نيسه لاس د هنر

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

چې خړپړ یم په غبار کې د بارودو
یون مې کړی دی په ښار کې د بارودو

چې د چا د سر پیاله به کړي په غاړه
راغی راغی په خمار کې د بارودو

نظر ستوري مې په سرو وینو لړلي
ګرځي ګرځي په مدار کې د بارودو

له جور رنګه زړه نازړه خټکې پرې کړي
په پالېز کې لا هم ښار کړي د بارودو

د ژوند مړی مې اخیستی په اوږو دی
قدمونه ږدم په لار کې د بارودو

د ریحان د غزل هار مې سینه سوځي
ملغلرې دي په تار کې د بارودو

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

د انتظار د مړو رڼو اوښکو اثر دی صنم
چې په سپېدو کې راجوت لکه سحر دی صنم

د هیلو کلی مې د وړانګو په منګول کې اخلي
د زړه په غره مې راختلی لکه لمر دی صنم

دڅواني مینې خمار وړمه په لېمو کې پسې
چیلم ،کبل، د چینې غاړه، مازیګر دی صنم

لکه ماشوم لاس په نکریزو تر سهاره ویښ یم
لکه هګۍ لکه مېوه لکه اختر دی صنم

تورې منګولې د بارودو به ایمان پرې راوړي
په کې مسکی د مینې پ یغمبر دی صنم

بس د نظر څپو یې غلی غلی واخیستمه
کښتۍ د سترګو مې غرقیږي سمندر دی صنم

د زړه کعبې ته به مې جوړ کړي د غزلو بتان
په تخیل کې مې لګیا ازر ازر دی صنم

لکه د ډېر وخت مسافر چې ځي د کلي په لور
ریحانه داسې تلوسه، داسې سفر دی صنم

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

## څلوریزه

رازده کړې مور للو باندې خبرې
په قربان او په ټپو باندې خبرې
ما ایمان دی په پښتو باندې راوړی
ځکه کړمه په پښتو باندې خبرې

# د لمر مسیح

شپې د ویر جامې اغوستې
تکې تورې تکې تورې
چار چاپېره خاموشي ده
فضا ټوله د بارودو ګرد نیولې
د شبنم په تور بخونه شان کفن کې
د ګلپاڼو مړي نغښتي
سپوږمۍ پټه خوله ژړا کړي
د رڼو اوښکو له ستورو یې لمن د اسمان ډکه
اسوېلي یې کله کله
د لمبو په غشو توره تیاره ولي
ګوندي ژر د غره په څوکه
راښکاره د لمر مسیح شي
د نسیم په لاس ترخه فضا جارو کړي
د سپوږمۍ اوښکې کړي پاکې
او د وړانګو په لاسو یې

د بارودو ګرځ
وهلی
د شبنم
کفن
تری تم شي ،فنا شي
پوکي پوکي ساه د باغ په هدیره کشې
د ګلپاڼو مړي بېرته راژوندي کړي

## څلوریزه

لونـــد ګرېـــوان څیرلـــی مینتـــوب کـــې درتـــه وخانـــدي
شـــین شـــي لـــه خنـــدا پـــه لېونتـــوب کـــې درتـــه وخانـــدي
دا رنګـــه ریحانـــه د ځـــوانۍ نیمګـــړی عمـــر وي
بـــس لکـــه یـــو ښـــکلی چـــې پـــه خـــوب کـــې درتـــه وخانـــدي

راوړي ناري له کومې خوا د مرده باد اورم
ساړه ساړه اسوېلي سم د سپېره باد اورم

د ياد کوترو ته دې اوښکې اوښکې ژدن شيندمه
غومبر غومبر مې شي زړګی ام البلاد اورم

زه داسې نه وايم چې چوپې دي، څه نه وايي دوئ
زه خو د قبر د لوحو له خولې فرياد اورم

ځم چې د غره د مستو زرکو ژبه ياده کړمه
نه د ملا خولې ته کېنم نه د الحاد اورم

غزل غزل يې د ناسور زخم جامې اغوستې
زه د ريحان مسره مسره له درد اباد اورم

۲۰۱۲ طايف، سعودی عربستان

د سرو سکروټو بارانونه له هر ځینه راځي
یوه شېبه مو چې په کلي ګلورینه راځي

زړه راته وايي بس غاښونه يې په زنه ټينګ که
خدای خبر ولې يې په ښکلو دومره مينه راځي

ستا د ټيکري پيڅکه مې ډېره شي رایاده موري
په مزدورۍ کې مې له پوزې نه چې وينه راځي

د هغوی لارې وې تر داره په سنګسار وتلې
د چا په خوله باندې چې تل خبره سپينه راځي

ريحان منلی دی ريبار ته سر په دې زېري کې
وايي يو ځل به دې سنګ دله يار په مړينه راځي

۲۰۱۰ طایف، سعودی عربستان

اوسیږي په اسمان کې ړېر سرزوري دي ریحانه
دا ښکلي ښکلي ښکلي لکه ستوري دي ریحانه

د اوښکو رنه پرخه دې پرې ثاثکي ثاثکي ثاثي
غوټۍ د غزلونو دې سمسوري دي ریحانه

اخر به مې د مینې لاس لمنې ته را رسي
هر څو که دروازې راپسې پوري وي ریحانه

که کانۍ وي نو دروند ښه دی همدغسې دې پروت وي
که زړه دې په سینه کې وي نو ښوري دي ریحانه

د وخت له سوې تندي له آهاړه خبر نه یم
په سر مې چې د مور د دعا سیوري دي ریحانه

دانې وې د لونګو، لونګین یې ترې نه جوړ کړ
اوس پېغلې وایې ستا د غزلتوري دي ریحانه

په شونډو مې برېتونه ږده چې نن رقیبان سوځو
راګوري دي، راګوري دي، راګوري دي ریحانه

په تنهاکو پښو اخیستی مې هر پل دی
ستا تر کلي په سکروټو کې مزل دی

له شهید کابل یې غېږه ګرځولې
چې په سرو وینو کښې لړند مې غزل دی

له ښکلا نه دې نیمګړی تصویر جوړ کړي
تخیل مې په ماینونو باندې شل دی

د یادونو ماشومان دې زړه ته راشي
څوک یې زخم ګڼي څوک وایي چې ګل دی

ستا د ارت ګرېوانه قصور یې بویه
چې جارو وهي نظر مې درته غل دی

له پېرېو لوغړني شېبې شماري
د زرتشت اور د ریحان په زړه کې بل دی

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

# کندو

خړبادونه را الوتي
د عقرب ستوری ختلی
زه هم ستړی په پټي کې
سپېره مخ یمه نتلی
کوټ ته کېناستم د باړې
خړ څادر رانه پېچلی
چنارو سرو ته ګورم
چې نظر مې شو په پوله
د مېږیانو تور بهیر پرې را روان وو
جنازه یې د بورا وه را اخیستې
چې کندو د را روان ژمي پرې ډک کړي
د خپل غار خولې ته نژدې شول
چې په سر یې وه ډبره
په ډبره پروت کربوړی
سر یې ښکته پورته کېږي
ته به وایې چې سپوږمۍ ته کړي ښکنځلې
د مېږیانو په کتار یې چې نظر شو

دا فرصت یې غنیمت کړ
پرې ورتوپ یې کړل له پاسه
حلق نه تېره یې په یوه ګوله بورا کړه
د خوارانو په خوارۍ یې سپېرې خاورې واړولې
ما مې ژوند ته فکر وکړ
د مېږیانو په هینداره کې خپل ځان راته جوت شو
زه هم بس په څېر د دوی یم
نه پوهېږم چې دا پاس تیار خور څوک دی ؟.!

۲۰۱۱ طایف، سعودي عربستان

## څلوریزه

که زغرو تورو مو په سر حکمراني کړې ده
په کې ساتنه مو تر او سه د زړګي کړې ده
ترخه ګردونه له ګلپاڼو نه په اوښکو وینځو
مونږ په بارودو کې د مینې زندګي کړې ده

# د غره ګرېوان

لمن یې کړې له سور ساندو ورته
پکې د شنو ترخو نقشه جوړه ده
خړې غونډۍ ته پسرلي په هنر
زېړه خولۍ د (غورېژه) جوړه ده

چې پاکوي اوښکې د دښت په پېڅو
د هر کمره له زړه چاودونه ژاړي
د غره ګرېوان چې د اسې لوند ښکاري
د سپینو واورو له بېلتونه ژاړي
د سپینو زانیو امیلونه ګوره
د شنه اسمان په پلن ټټر ښکاري
کله د وریځو په ټیکري کې پټ شي
یوه شېبه وروسته بهر ښکاري

ورسره را یې وړه ښکلا د جهان
د اوښ په ملا باندې انډې ښوري
په دې یوه کې اذانګونه د چړګ
په دغه بل کې یې سبرلي ښوري

څمه پټو ته له همزولو سره
د پولي کوت نه چې سوندۍ راوړم
کړم د زړې ترورکۍ له سر نه یې څار
بدل کې ګوړه ترې چکۍ راوړم

د خوړینو واورو د تربرف له وجي
یو څو شپې به ساتېرې وکړو
د جومات بام مو دې چاکونه کړي
را ځئ چې ورشو پرې خوسې وکړو

لاندې شو ختم اوس کوبۍ خورندۍ که
ژر شه مور جانې د سپینکیو وار دی
شنه به ګوډۍ ګوډۍ راوړمه درته
هر برېځر د پیرکو وار دی

اظهار د مينې ته سبب ګوري
سترګې مې بيا يو څه غضب ګوري
څوک په ګل پرخه کړي ګمان د شونډو
څوک له يقينه په کې رب ګوري

زياتې مې زړه د بېلتون برېښ وهلی
ستا په سينه د وصال تب ګوري
لکه مزدور عجم زړګی مې ربړدي
نظر دې نبغ لکه عرب ګوري
چې سرګردان دې د نظر چنګک دی
بس د ريحان د زړګي کب ګوري

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

تور د مینې په تندي ورسره وړمه
زړه په حسن کې بندي ورسره وړمه

که بېلتون یې کشمالې د یاد تازه کړي
د لېمو (نون) کودي ورسره وړمه

د اووو سورونو پیر مې زړه کې ناست دی
د سندرو مریدي ورسره وړمه

کړم تر داره د جانان د نامه ذکر
بدرګه کاڼي ګړدي ورسره وړمه

که په هر قدم کې وخت، مرګی کرلی
امیدونه به ژوندي ورسره وړمه

د ریحان د خیال له دښتې کوچۍ لاړه
داغ په زړه لکه ریدي ورسره وړمه

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

# چاودې شونډې

چې خزان درباندې راغی ګلبدنې
د باړخو څوکې مې غبرګې شوې نونې

هسې نه غوخ مړوندونه پکې راشي
د ویالې اوبه شوې ورو ورو سوربخنوي

د ښکلا دښمن اري ورپسې راوړي
یه سپین غره ! لاس دې پرې د هرې ونې

تخیل نه مې د تورو رمې تښتي
د غزل سوې کېږدی مې په زړه پلنې

سره غرمه یخه خولګۍ په دروازه کې
کوی نه شو اوس له ښکلو دا غوښتنې

داسې اوردی لګېدلی هر څه سوځي
کلی، ښار، دښتې، صحرا، غرونه، رغنې

چې له (ژي) سره شي (تاته) کوچۍ نشته
د ماخۍ څوکې یې نه نیسي لمنې

بورا ځکه د ازغو په څوکو زانګي
د غوټۍ شونډې خزان کړلې پمنې

په رنجو باندې ګمان کړي د بارودو
د دوۍ سترګي دې له ځایه نه خیرنې

زړه مې مینه، عقل وېره کړي له وخته
همېشه سره په جنګ وي لکه بنې

ښایي بېخ یې د بارود چینجي خوړلی
چنار پاڼې په څړموني شوې ډډنې

سلسلې د جنازو دې نه تم کیږي
په ژړا ژړا مو سترګي شوې لېچنې

غم ځپلي چاودي شونډي په کې ګورم
رانه غلې آیینې کوي پوښتنې

د زړه حال چاته په خوله ویلی نه شو
قصیدې مو د زخمونو کړي شننې

اوس مو نه پرېږدي لا سونه تر ګلونو
ورکولې مو ازغو ته چې بلنې

د یتیم د ښو څوکي چې لمدې شي
بس زما د زړه په سر کې وهي ستنې

په کې جوړېږي انځورونه د وحشت دي
له هوسیو نه ښکاري ایستې څرمنې

نه د پېغلو د واده د شپې ټپې شته
نه ځوانان شته چې ډولو ته څڼې څوني

څه به تمه کړو د کورتو د غوړیو
چې لېوان مو د رمو کوي څارنې

له خپل ځانه په هینداره کې وېرېږو
بلا وخت دی شوې مو سترګي بلا جنې

د زرتشت سکروټي ګام په ګام کرلې
له پېړيو مو شيبې دي لوغړنې

د مرګي کچکول په غاړه پسي ګرځو
په هر در ،د تورو زغرو کړو بسپنې

د ريحان زخم ګلاب د (سرروضې) دی
داغ يې وړی له غاټولو د (ښرنې)

ښرنه: د پکتيکا پلازمينه او سر روضه زما اصلي ټاټوبی

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

## څلوريزه

خاموش ګودر چې د سندرو په منګول کې واخلم
د زړه له کومي سيپارې راپسي ږېري وايي
ګوره چې کله به مې خلاص کړي له پرد ښس زنځيره
د پېغلو ميره خو تسبې راپسي ږېري وايي

د عبدالرحمن غضري د غزل په لیکه

“ وحشـــي ګـــوزار تـــه دومـــره تـــرې پخـــوا نـــه وي چېرتـــه
وختـــه پرهـــار تـــه دومـــره تـــرې پخـــوا نـــه وي چېرتـــه

چـــې د تنهـــاکو پـــه څپلـــوکـــې د یـــارکلـــي تـــه ځـــې
عشـــقه انګـــار تـــه دومـــره تـــرې پخـــوا نـــه وي چېرتـــه

ښـــایي کـــوم ښـــکلی درتـــه شـــېخه ســـترګکونه وهـــي
د تســـبو شـــمار تـــه دومـــره تـــرې پخـــوا نـــه وي چېرتـــه

زړونـــه مـــو دومـــره غبـــرې پـــه غبـــرې پـــه درزا ولـــي دي
نظـــره څـــار تـــه دومـــره تـــرې پخـــوا نـــه وي چېرتـــه

د اوښـــکو ســـتوري هـــر ماښـــام رانـــه پســـول تـــه غـــوارې
اســـمانه هـــار تـــه دومـــره تـــرې پخـــوا نـــه وي چېرتـــه

د غضـــري پـــه څېـــر دې روح کـــې نـــوم د یـــار ختلـــی
ریحانـــه دار تـــه دومـــره تـــرې پخـــوا نـــه وي چېرتـــه

کړم بیان به درته کوم په یارانه کې
زر خوندونه رامالوم په یارانه کې

د یادونو په ورا باڼو کې دې ناست یم
تخنوي مې لکه زوم په یارانه کې

دا غماز پېکی دې واړوه له مخه
څوک خو داسې نه وي شوم په یارانه کې

سره غرمه، پخه خولګۍ، زړه مې درزیږي
لاتر اوسه یمه اوم په یارانه کې

په تندي یې نڅوم د کوڅې کاڼي
ما ګټلی دومره نوم په یارانه کې

بدرګه به یې وږمې درسره درومې
که ریحان دې شي معدوم په یارانه کې

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

نـــور بـــه ريحانـــه ورتـــه نـــه ږدم پـــه ورغـــوي زړګـــی
ښـــکلي زړه نـــه لـــري پـــه اور بانـــدي راســـوي زړګـــی

د ګـــران وطـــن غمونـــه واړه دې ښښـــتي پـــوري
لکـــه (ســـر ســـوبندي ) مـــې غلـــی غلـــی روي زړګـــی

ښـــايي دانـــې دانـــې يادونـــه دې پاخـــه شـــول پـــه کـــې
لکـــه انـــار غونـــدې مـــې تـــرک درپســـې چـــوي زړګـــی

مـــخ دې اشـــنا دشـــيدو جـــام دی پـــه کـــې شـــک نشـــته دی
خـــو لـــه مـــا غـــواړي ســـتا د ســـپين بـــارخو پيروي،زړګـــی

زاړه ټکـــور شـــول پـــه ســـينه کـــې اوس درزا نـــه کـــوي
ځکـــه داغونـــه رانـــه غـــواړي نـــوي نـــوي، زړګـــی

دچـــا پـــه درد ،دچـــا پـــه غـــم بانـــدې درد مـــن چـــې نـــه شـــي
څـــه يـــې دی فـــرق کـــه پـــه ســـينه کـــې وي کـــه نـــه وي زړګـــی

د سهار نرۍ نرۍ نازکې وړانګې
له نسیم سره په دنګ چنار کې زانګي

کلکه مځکه مې د زړه پوټۍ پوټۍ شوه
د جانان غمونه تل پرې وهي سانګې

په دریاب کې نه ګرداب ګوري نه پیڅکه
په تصویر پسې دي هر ځای ته وردانګي

چې مې وخاندي د شعر په ونه پوري
ماتوي مې د سپېڅلو هیلو څانګې

غریبي ده که وم مړ د خاک په غاړه
سقاط ورکړئ څو سندرې لرم پانګې

د رقیب نوم یې اخیستی برېځر دی
ریحان ځکه ترماښامه وهي کانګي

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

راځئ چې د سندرو مات پیوند سره پیوند کړو
ټپه د ملالۍ به له میوند سره پیوند کړو

کړۍ به یې ورواچوو لاسونو ته د کرکې
زنځیر د خوږې مینې به له ژوند سره پیوند کړو

چې نور پرې د ویر د کلي ماته خاموشي شي
د شنو بنګړیو شرنګ به له مړوند سره پیوند کړو

لمن له کاڼو ډکه لکه غر ګوزار به نه کړو
مصرې د (دراني) به له خپل (اند) سره پیوند کړو

د ګوتو په لیندو کې به د مینې غشي ولو
غوټۍ به د ګلاب له کمربند سره پیوند کړو

په خیرې ګربوانه چې تک وهي تنهۍ د اوښکو
راځه ریحانه ځان به له دې ګوند سره پیوند کړو

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

تر سهاره لکه ستوري غزلتوري
غلي غلي راته ګوري ،غزلتوري

د غزل پښې مې غبرګې دې الوتې
د ماينونو په سر ښوري، غزلتوري

دا رقيب خو دې نظر ته سپېلنی شه
راکوي دې سترګې توري، غزلتوري

تخيل مې د کابل په ياد کې سوی
له سکروټو نه را اوري غزلتوري

ستا د حسن تر قدم لاندې چاودلي
د حباب په څېر کمزوري ،غزلتوري

د چم ښکلي درته څه ښکاري ريحانه!
غزلتوري، غزلتوري، غزلتوري

۲۰۱۱ طايف، سعودي عربستان

هغه په زړه نوم د جانان نه لري
څوک چې ریښې ریښې ګرېوان نه لري

ستا بې یادونو مې زړه دا رنګه وي
لکه یو کور چې ماشومان نه لري

بلا دې واخلم چې انکار دې وکړ
ژوند وي بې کیفه چې ارمان نه لري

د بم لوخړو ترې نه لوری ورک کړ
زخمي دعاووي مو اسمان نه لري

د غزلتوري مې ډالۍ راوړې
پېغلې په غاړو کې مرجان نه لري

خالي اوربل یې په ټیکري کې پټ دی
کودي مات شوي دي ریحان نه لري

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

ګوري اسمان ته له دالانه ، درنه لاړه نه شي
څاڅکي دې غټ پرېږده بارانه ،درنه لاړه نه شي

د ښکلا زانه مې د شعر د غره په سر ګرځوه
کوه پرې پام د خیال اسمانه درنه لاړه نه شي

د سترګو کاڼي دې د د زلفو په مچړوغزه کې ږده
چې مې رمه د نظر، ګرانه ،درنه لاړه نه شي

ریښې ریښې به شي ارمان مې چې په خاورو نه کړې
تنۍ د اوښکو مې ګریوانه درنه لاړه نه شي

څوک له ساحله درلېږي څپې څپې اسویلي
د زورور بېړۍ، طوفانه درنه لاړه نه شي

ریحانه ټینګه د الهام پرۍ په غېږ کې نیسه
بې یکه زاره یه قربانه، درنه لاړه نه شي

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

# تو منه لپه

ژوند لکه لمر له يوه خاموشه ښاره
د شپې له خېټې د سحر په لاسو
د غره تر بامه راشي
لومړی د وړانګو په زرينو شونډو
د چنار شونډې ښکل کړي
خوږو نغمو ته مرغکۍ پاڅوي
د برېځر تو منه لپه کړي له کلي ډکه
د تنارو په تېغنو ايښي وي خاوريني کټوي
سترې د دهقان ته تر شو د يارو ورځي
د بنګارونو وږمې
نري لوګي پاس د بامونو په سر
لکه پرۍ د افسانو کړي نڅا
ژوند لکه لمر دی په توده غېږه کې
غرمه ورته ينګ کړي د پېغلې په شان
تودې خولګۍ وي په خولو لړلې
د زړه درزا ، د نظر ثاروي له کونجو د سترګو
زېږي زېږي د پلوشو شالونه

د مازیګر په ناوې وغوړوي
د بنګړو شور لکه ورابانې راځي
د ګودر زوم له خوشالۍ نه په خولو کې ډوب وي
ژوند لکه لمر د غره له بامه د ماښام په زینه
کوزېږي غلی غلی
له شفقي سترګو یې وینې رغړي
د هدیرې جنډې یې
وروستۍ وړانګو ته انتظار کوي له ډېره وخته.

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

ځم له باده سره غرونو ته لار کورم
د ډول غږ یم ګړنګونو ته لار کورم

د نظر په تار مې سترګې پیاده کړې
غلی غلی زړونو ته لار کورم

ستا له کلي هدیرې دې راتاو شوي
په قبرو کې قدمونو ته لار کورم

چې مې ستا د نوم زګېروی په شونډو راشي
څړیکې غواړمه دردونو ته لار کورم

څاڅکي څاڅکي یم له زړه راڅڅېدلی
لکه وینه غزلونو ته لار کورم

په بڼو کې پټپټوني کړم ریحانه
لکه اوښکه ګریوانونو ته لار کورم

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

نور اموخته کړه زیاتي ځان په مینه
اشنا تړلی دی جهان په مینه

ژوند مې نیم ژواندو حوصلو ته ورکړه
پوري په شوندو کړه پېزوان په مینه

مکان به وکړي اقتدا ورپسې
که دې پیدا کړو لا مکان په مینه

یوازې ذکر د صنم چې کوو
تر داره درومو ترنېروان په مینه

ستا د یادونو په کښتۍ کې ناست یم
تېر به د هجر شي طوفان په مینه

شي به کافر که ترې نظر واړوي
ریحان راوړی دی ایمان په مینه

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

خوښی دې واخیستې له ځانه سره، غم پاتې شو
په هره سترګه د ښو په څوکو نم پاتې شو

د هر ازغي په سر دې ګورم ګلورین یادونه
د هر ازغي سر مې تنهاکو ته ارم پاتې شو

ستا له یادونو سره غلی غلی تک راکوي
غم دې زما د زړه په سر لکه لړم پاتې شو

د ځوانۍ ګل دې څه بې وخته خزان ورژاوه
ژوند مې په څوکو د ازغو لکه شبنم پاتې شو

دی تری تم د غنمرنګ حسن غزل دې رانه
خیال مې چاودلی ورپسې لکه غنم پاتې شو

ریحان چې ستا د بیا لیدلو تمنا لرله
هغه ارمان یې خاورې خاورې تر قدم پاتې شو

یادونه: پورتنی غزل د ځوانیمرګ محیب الله بهرام اروا ته لیکلی

را دې شي له ذکره سره سم ،پېريان
ستا د ښکلاګانو د حرم پېريان

ډوب به يې د وينو په سره ډنډ ه کړي
ناست يې په تنکۍ سينه د بم پېريان

راوړئ د ګهيځ له پير د لمر تعويذ
ډېر شول په تيارو کې د تور تم پېريان

مړه مړه راته مه ګوره په مړو سترګو
بيا مې درته ونيسي صنم،پېريان

ناست يمه يوازي خو تخنېژمه
ښايي په دې ښکلو کې شته هم پېريان

بس چې درته غوټي د غزل سپړي
کړه پرې بند ريحانه د قلم پېريان

ګرانه یاره مسافره رانه لاړې
په زما د زړګي سره رانه لاړې

زما زړه کې دې خنجر د بېلتون پرېښود
یو ناڅاپه، ناخبره رانه لاړې

په خوبو کې مې په تا پسې سلګۍ دي
خنده رویه، جادوګره رانه لاړې

ستا د غم ماښام په غبرګې یم نیولی
ځوانیمرګه، مازیګره رانه لاړې

غبرګې سترګې یې ړندې له خدایه غواړم
ښکلیه چا کړې له نظره، رانه لاړې

د ریحان د زړګي زور اوبه اوبه شو
چې لحد ته زوروره رانه لاړې

یادونه: چې زما یو خوږ ملګری ارواښاد لعل محمد مې په خوب ولید، دا غزل مې ورته ولیک.

په بارودو کې په ژوند پسې روان يم
زره چاودی په اوربند پسې روان يم

د شهيدې کوچۍ مړی دی نيمګړی
بوټي څارم په مړوند پسې روان يم

په وطن مې د جنګونو پېريان ناست دي
هر زيارت ته يې په بند پسې روان يم

لکه ماتې څانګې زړونه پرې ترمه
د سندرو په کمند پسې روان يم

د خولې ګوره يې ريحانه راختلې
په مزه مزه ،په خوند پسې روان يم

۲۰۱۱ رياض، د داود ګلالي دفتر

چې وويـنم په ستر‌ګو د دلبر غونډې يو څوک
رالويږي په لېمو کې د شرر غونډې يو څوک

تر پښو يې غلی غلی د چينې په شان بهېږم
په سر باندې مې پروت دی لکه غر غونډې يو څوک

ولاړ مې وي دا ښکلي په لېمو لکه باڼه
ولاړ مې وي په زړه کې د خنجر غونډې يو څوک

د لمر په ژېړ تابوت کې به د شپې مړی کړي بند
راځي به په دې مېنه د سحر غونډې يو څوک

سرې لپې مې ډکېږي د لېمو هر مازيګر
په ستر‌ګو کې مې اوسي د ګودر غونډې يو څوک

ريحان چې له لفظونو د غزلو بتان تراشي
اوسيږي يې په خيال کې د مرمر غونډې يو څوک

غواړي چې بیا راباندي وباسي بړاس د اوښکو
لښکر غمونه را روان دي پاس په آس د اوښکو

چې یې د زړونو په هندارو خیري پاتي نه دي
داسي مخونه همېشه لري لباس د اوښکو

د تسبو ځوندې د ریا په څاڅکو نه لمدوو
مونږه په شپو څښو زاهده ډک ګیلاس د اوښکو

په بهانه بهانه غسل ورکوي ښهو ته
زیاتي خواوج ته رسېدلی دی وسواس د اوښکو

ریحانه دومره له یتیمه لاس په سر هم نه یو
د پلار یادونه تېروي پرې رنه لاس د اوښکو

شومه دم وي ، نيمه شپه کې غزل راشي
ستا يادونو سره زړه کې غزل راشي

چې ګناه ده که ثواب دی ، نه پوهېږم
کله کله په لمانځه کې غزل راشي

ځوړند سر ،ګروم ځمکه،دېواله ته
چې رانشي په غرمه کې غزل راشي

ستا د سترګو رمې پيايمه په خيال کې
ستا د زلفو په خېمه کې غزل راشي

د الهام د کلي ميره راته ښکاري
ستا په هره خاطره کې غزل راشي

انتخاب د غورېژه د ګل رديف کړم
رنځور ګرزمه په غره کې غزل راشي

انتظار دې د راتلو کړمه ريحانه
لار دې څارم په زينه کې غزل راشي

څوک چې د جانان د کوڅې څرک وهي
پل به د سکروټو په پاټک وهي

پانې يې له ډېره درده ولوېږي
ځانګه، د بارود لړم چې ټک وهي

زړونه مو چې غورځي د ماهي په څېر
ښکلي يې د سترګو په چنګک وهي

نن يې د نازونو ،انداز نوی دی
مخ مې د پېکي په پوست څپک وهي

وباسي غونډاري د سرونو ترې
خدايه چې دا څوک د جنګ غړک وهي

اوس مې نو ريحانه زړه جنت ته ځي
چا ويل چې حورې هم سترګک وهي

ږدي مې کاينات که په ورغوي رب
زه به تنها راوړمه خودي ورنه

يو سترګک د لمر يې وجود ختم کړي
قاف تر قافه څوکه وړانګې ځي ورنه

ستا د کوڅې کاڼو سره عشق لرم
اخلمه خولګۍ زه په تندي ورنه

ماته خو يوازې سمندر ښکاري
جوړ شي که څپې يا ډومبکي ورنه

واړه کاينات به بې مفهومه شي
لرې کړې که جمع او منفي ورنه

نشت کې چې د هست په پله ريحان ګرځي
بې مظهره درومي خوشبويي ورنه

يو او بل ته نيسي لارې، په مخ درومي
ارادې يې دي خونکارې، په مخ درومي

سترګک ووهي په بيړه کې دا ښکلي
لګوي په زړو نوکارې، په مخ درومي

په کې وشيندي تخمونه د سکروټو
اړوي په بم شوديارې، په مخ درومي

د جنګونو له غړکې نه راباسي
د بارودو تور غونډارې په مخ درومي

رنګ په وينو سور (ځونډی) بوټي کې زانګي
د ريحان له سترګو دارې په مخ درومي

د ځونډي د غزل په پيروي

جوړ د اوښکو مې په مخ باندې برسات شي
یاره مینه دې غونډۍ د عرفات شي

د نظر لاس مې دزړه په نبض کېږدي
په رنځور چې دې د سترګو التفات شي

ستا د حسن غزل بت به تربنه جوړ کړم
راپیدا که له مرمرو نه لغات شي

په کې ګورم حدیثونه د ښکلاوو
راته ویړ چې دې د ښکلي مخ مشکات شي

زرګلونه غوړېدلي به تري څار کړي
یو ازغی مې که د مینې زړه کې مات شي

د نظر احرام دې ټول رانه چاپېر کړم
چې ګذر مې ستا د سترګو له میقات شي

د خیال بڼ کښې مې د شونډو مچۍ ګرځي
په ریحانه غزلتوري به مې شات شي

# زخمي ريحان

لولپه مې چې په زړه کې هر ارمان دی
پروت د سرو لمبو په منځ کې مې جانان دی

د هر خاک ترخې په اوښکو زرغونېږي
هره مينه هر يو کلی ګلستان دی

سرې ګلپاڼې په څوځانو کې زنګيږي
ورپسې سپېره بادونه دي ،خزان دی

اوس دې ولمانځم په څه باندې ميونده
چې نښتی مې په ستوني کې ارمان دی

د ټوپک مرمۍ د بام کودي خوړلي
په کوڅه کې پروت زخمي رخمي ريحان دی

د زلمو اتڼ په وير باندې بدل شو
ډول په وينو باندې سور ،خالي ميدان دی

هر ازغی مې له تنهاکو خولګۍ اخلي
رنګولی مې په وینو بیابان دی

برېوکیو شیش محل مې ورنه ساتئ
هر سړی کاڼي په لاس کې را روان دی

د هر چا د غوږ کاڼۍ یې دي شلولي
رالوېدلی دلته تندر د اسمان دی

سور غبار د غورېژو ګلو نیولی
د سویانو د هوسیو لو روان دی

بیا هم یو، د یو د بل د وینو تږي
یو مو دین یو مو مذهب یو مو قرآن دی

چې تر ګوره د ورور مړی وړم یواځې
هر سړی دلته اخته په وېر د ځان دی

د زړه ورخ مې د غمونو سیلاب وړی
د وجود تخم مې سراسر تاوان دی

چې د ورور په وينو زنګ د تورې وينځي
دا سړی د چم په خلکو کې ښه ځوان دی

د زخمي زخمي شاعر زخمي غزلي
لژند لژند يې په وينو کې ديوان دی

حبابونه مې د وينو زړه کې چوي
د غمونو پرې شېبه شېبه باران دی

نيل د سرې ډولۍ قلنګ راڅخه غواړي
و خپل وار و ته بادشاه هم پرېشان دی

د مور سيوری د کبلي له سره اخلي
د ښکاري په لاس کې غشی او کمان دی

سر او کال د پشمني اورونه بل دي
د اختر زېری پناه تر اووم آسمان دی

بې برخې ستا د حسن له درباره پاتې شوی
په خېر د وهابي يم له مزاره پاتې شوی

د وير په سپېره څانګه د خزان سرونه وايي
بلبل د يه قربان مې له بهاره پاتې شوی

پردېس مې قلقلې کړلې په ستوني کې تربتي
يو مير يمه د زاڼو له کتاره پاتې شوی

له دې وريځو وشلوئ للمو د باران طمع
لوګی دی له تنې نه د سپېداره پاتې شوی

دا خړ سړی به خړه شړی، خړ کلي ته يوسي
په ښار کې تيندکونه خوري له ښاره پاتې شوی

غزل تنها د تورو د لفظونو هنر نه دی
زګېروی دی چې له څړيکو د پرهاره پاتې شوی

در پورته دا ريحان کړه چې سينګار دې مکمل شي
لوېدلی ،مات غمی دی ستا له هاره پاتې شوی

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

حلقې جوړې له کوڅیو کړه جانانه
عادتونه د کیږدیو کړه جانانه

ننواتي د رنځو اوښکو قبوله
په جرګه کې د سلګیو کړه جانانه

په کې پروت لکه زخمي زخمي کابل یم
وخ !درټول مې له مرمیو کړه جانانه

ستا ملالې شونډې خداى ورته پیدا دي
زمزمه پرې د لنډیو کړه جانانه

چې منګولي مې کړې بندي په ګرېوان کې
بس لحاظ مې د تڼیو کړه جانانه

که ریحان د وچو شونډو کچکول دروړي
زکاتونه د خولګیو کړه جانانه

## ولسمشر ته !

# بیا دې سترګې ولې سرې دي؟

بیا دې سترګې ولې سرې دي په مالیاره
بیا دې اوښکې اوښکې پرخه په بڼ اوري
بیا دې کوم ګلاب په ویر کې زاره چاودی
بیا دې کوم نرګس په غبږ کې سپرغۍ ښوري

چارچاپېره دې له باغه راتاو شوي
د سکروټو د لوګیو دېوالونه
کله کله له اسمانه راروان وي
د بمونو د ګولیو خروارونه

د بارود سبلۍ یې شال د پاڼو وړی
دنګې (ولې) دې سرتورې دي ولاړې
په هګیو کې یې سا د بچو خېږي
شیدوپۍ په خپلو ځالو پسې ژاړي

د غنم له وږو جوړ دي انګارونه
په جوارو کې را شني تېري چړې دي
د لوګري د لاس ګوتې غوښې غوښې
له ژړا یې په لېمو بلې لمبې دي

تښتېدلی د بلبلو مهین سېل دی
هره څانګه په ولکه کې د زاغانو
درسته ورځ یې په بورا پسې ژړا وي
شوې ړندې نازکې سترګې د ګلانو

نن چې بیا د تاک لاسونه سوي سکور دي
نن دې بیا د بې وسۍ پرخه لېمو کې
دغه اور په دغو څاڅکو نه مړ کیږي
نه به سا راشي په مړاوو سرو غونچو کې

که دې زړه غواړي چې سوی بڼ سمسور کړې
ددې خپل پټې کبل له بېخه باسه
دا په ځمکه کې تربت چې بزغلي دي
دا خوواره دې ددې سپېره لاسه

ددې شنې پولې په کوت کې دې ماليا ره
د پردۍ دښتې ځوځان راته کرلي
د غوټۍ په ګرېوانه کې يې منګولي
له غاټولو يې سرونه دي رېبلي

دا به هم وي د ځوځانو له شامته
دا بهير چې د نرګسو دی خوا تورى
د بارودو له ګردو يې سترګې ډ کې
نور يې نشته په وجود د زلفو سيورى

د نرګسو دا بهير او بوا خيستى
کړه ورورانده يو ځل بيا غاړه لاسونه
که نه مخکې دي قاتل د بڼ ولاړ دى
ورکوي به په خندا دواړه لاسونه

که دې سولې د کوترو په ارمان يې
که ورمې غوا ړې د امن له ګلشنه
ستا د اوښکو د شبنم په وس کې نه ده
دا دې ځوځ بوټۍ دې ورک کړه له چمنه

شاعر ملنګ یم، را اشنا صدقه
د سورکو شونډو د موسکا صدقه

ګرانې ښکلا دې پېغلتوب ته رسي
کیږي د سپینې خولې په تا، صدقه

چې غبږه راکړې، سینه لري ساتې
هسې نه شي درته ګناه، صدقه

رقیب در ګوري ماښام پاستي باسه
وایي چې وي رد بلا، صدقه

د واړه چم سترګې په تا پسې دي
ورکوه ښکلیه په بیا بیا صدقه

دنګې! در پټ مې په پړونې کې کړه
چا وېل قبلیږي د اخفا صدقه

ستا له سندرو نه ریحانه ګله!
شي دې خبرې د ملا، صدقه

په لمبو کې را ایساره لکه شمعه
درسته شپه یمه بیداره لکه شمعه

په زګیروو باندې مې شونډې لولپه شوې
تاو مې خېږي له پرهاره لکه شمعه

څاڅکي څاڅکي له لېمو را څڅېدمه
تر سپېدو له انتظاره لکه شمعه

چې د مینې له خوارۀ تاوه خبر شې
د پتنګ په شان مې خاره لکه شمعه

په زیارت کې د شهید وجود ریحانه!
زړه مې بل وي تر سهاره لکه شمعه

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

شپه دې اوږده شي چې په غېږه کې مې ته پرته يې
ډېوه دې مړه شي چې په غېږه کې مې ته پرته يې

خولګۍ رابلوده کړه په خوله پورې ډاربږې ولې؟
دنيا ړنده شي، چې په غېږه کې مې ته پرته يې

د تورو شرنګ باندې ګمان د شنو بنګړيو کوم
زړه مې ډاډه شي، چې په غېږه کې مې ته پرته يې

زما شوخي، ستا اننګي په ټکنۍ غرمه کې
اوبه اوبه شي چې په غېږه کې مې ته پرته يې

د بڼو ورا مې ستا د شونډو ناوکۍ تخنوي
د واده شپه شي چې په غېږه کې مې ته پرته يې

ريحان تر اوسه لا په دې فلسفه نه پوهېږم
غېږ مې توده شي ،چې په غېږه کې مې ته پر ته يې

راغلمه له زړه نه په ښهو درپسې واوښتم
اوښکه د ارمان، په ګرېوانو درپسې واوښتم

پلونه د شغلو دي له ماښامه راسې ځارمه
ورک شوم لکه ستوری په سپېدو درپسې واوښتم

وامې ورېد اشنا ستا د ښکلا د قافلې جرس
لار غونډې په دښتو او په غرو درپسې واوښتم

ګرد کې د بارودو په لېمو د اوښکو شولې ورېم
یه سپینې کوترې په بمو درپسې واوښتم

زړه ته دې له سترګو د نظر په تار کې درغلم
پټ لکه د ذکر په تسبو درپسې واوښتم

پاتې به مې چاپ شي د ګاښونو ستا په زنه کې
یو ځلې اشنا که له پلمو درپسې واوښتم

څنګه مې غزله، د ریحان شونډو ته راوستې
څرېکې څرېکې درد له پرهرو درپسې واوښتم

چې دې نه وینم جانانه غټې سترګې
وي پرتې په ژوندانه مې د غم ګرګې

په کاغذ د زړه مې باب د مینې لیکه
کړه ککړې په رنجو د ښو درګې

د یادونو کرامت دې رارسېږي
لاس نیوی مې درنه کړی دی بزرګې

د بغداد په څېر جټکې به درته درکړي
که یې واوښتې د حسن په ځانمرګي

د فطرت نیمه ښکلا ورسره لاړه
ښوربېدلې چې د اوښ په بار کې چرګې

ټک دې باسي له تالو که نه (ځونډیه !)
نن سبا دي، د ریحان غزلي څرګي؟

یادونه: دوست محمد ځونډی زما شاعر ملګری

پالي پالي راته ست کي سره ګلونه
د خوږې مورکۍ په کوت کې سره ګلونه

له رنځورو سترګو ځاربه دې يو يو کړم
که راشنه مې شي په ګورت کې سره ګلونه

اننګو کې راته موسکه موسکه کېږه
په دا شاني برکت کي، سره ګلونه

په هينداره کې له ځان سره ګنيږي
يو له بله روايت کي سره ګلونه

د سبلۍ سپيره جارو د خزان لاس کې
خدايه چېري به هجرت کي سره ګلونه

له ريحانه د ازغيو لښکر تاو شي
بس چې ونيسي په نيت کې سره ګلونه

سلیمان لایق ته!

سلام سلام دی، غرونه غرونه مینه
د ښکلاګانو انځورګر شاعره
د طبیعت په جزیرو کې ورکه
دهسکو څوکو دچونغر شاعره

ګرانه خبره مې دځان کومه
وایه رښتیا چې مرور خو نه یې !
له ګړنګونو درنې مینې نه مې
چیرې یورپ کې لاس په سر خو نه یې !

کلونه کیږي چې خاموش ولاړ یم
باران خفه رانه، شرنګی نه لرم
چینې د سترګو مې دي وچې وچې
ته وا له ځایه نه زړګی نه لرم

اوښان د و ر یځو مې په سر روان دي
په کې انډي د سرو سکروټو ښوري
لمن مې ټوله ده لمبو اخیستي
تر ښه بخرکي د سپرغیو اوري

سویان، هوسۍ ساه اخیستلای نه شي
ښکاري چې هرې شېلې ثار نیولی
د غور بېځه د ګلو ژیړې خبرې
ګرانه د سرو و ینو غبار نیولی

راباندې اوري د پولادو ږلۍ
د هر لاله په زړه مې اور بل دی
داوښکو پرخې مې را و ییشبدې
د هر ګونګه ترخې په کور بل دی

اسماني تندر مې لوېدلی په سر
د ملا پرښو مې چاکونه کړي
په ټول وجود کې مې خورې دي څړیکې
د کانو کریژې مې په هر خوا رغړي

پرهر پرهر وجود مې ګوره کنه
د دې زخمونو دوا تا سره ده
ته يې شاعر او زه ښکلا لرمه
ستا د زړګي د نيا له ما سره ده

دغه سپېره سپېره پرهر وجو د ته
نه څه دوا نه څه پټۍ غواړم
له ولولو ډکې خوږې ترانې
يو څو ټپې ،شوخې لنډۍ غواړم

راشه د اوښکو اوبه خور راکړه
چې دې په خيال کې را زرغون شمه
لږ په لفظونو کې مې واړوه
چې د حالاتو اوښتون شمه

غواړم د مستو څپو سيل وکړم
يو څه ماضي ته مې يادونه يو سه
له ازانګو مې چې شي غبرګه ډ که
سرو درمندنو ته ډولونه يوسه

چې مې کو چې له سترګو ژې ډکوې
راشه په غېږ کې مې کېږدې ټک وهه
چې يې لمنه نيسې تاته درومې
په هر قدم کې يې ماخې ټک وهه

ژنو پټکو کې يا بندې لکې وي
پيغلې په څنو کې سورساندې تړي
چا وې ګوډې ډکې له (شبځو ) ځينې
ګورت د مشکنو لاندې باندې تړي

چې مې سپوږمۍ په خوکه کړنګ ووهي
لرغونې پېغلې مې غونډې ته راشې
سر په سرنو ش کړي د سوما جامونه
خوند به بې کيفه زندګۍ ته راشي

کړه تېنګه پوځه له شيدو نه جوړه
راشه شپونکيه خمزوره يوسه
د هر غريب شونډې کړه غوړې باندې
تر هر بزګره تر مزدوره يوسه

ښه په کمال يې په مچړو غزه کې ږده
راځه چې کلکې تيږې توري د رکړم
لېوه شغال دواړه په ټنډه وله
که شو ې د ر کمې بيا به نورې د رکړم

چې د وطن لمنه ډ که شي ترې
په کې د وړانګو ملغلري رغړي
د لمر امېل مي په سر وشلوه
چې په ټټر مې لري بري رغړي

زه به پو ټی شم د ښرنې د ر ته
د هر غليم سترګې ور ډکې کړه ترې
په بړبوکيو کې يې پلونه نغاړه
لارې کوڅې د وطن سپکې کړه ترې

۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

# کلیوالي کلیوالي

اې زما د ماشومتوب خوږې همزولې
در په زړه او که دې هېر دي
آ د ژمي د موسم لومړنۍ ورځې
برېځر نرۍ ځپکي اورېدلي
وۍ رښتیا لومړۍ ځپکي اورېدلي
تا یو خط کړ را خطا د خونې وره کې
کړه ناره دې چې برفي ده
بیا دې تېزه منډه وکړه
د برفي له اورېدو سره زه هم په تا پسې شوم
پښې لوخې مې ګامونه ګړندي کړل
په پسته ورښمینه واوره
کړې مې تم د کوڅې منځ کې
یخ نیولې ترهېدلې مې خپل کور ته راوستلې
د تنور په توده غاړه
سره کېناستو مونږ دواړه
په ایرو کې وه خاورینه کټو ایښې

باندي کړی مو وو (لاندی)
ترې خوږې ورېمې را تللې
د کټو اړخونه تور وو
ما پرې ګوتې کړلې توري
ستا غومبوري مې در تور کړل
بیا مې دلته هم شوخي درسره وکړه
او نرې نرې بربېتونه مې در جوړ کړل
ستا له شرمه په لېمو کې اوښکې ډنډ شوې
څومره ښکلې ښکارېدلې
په ایمان وایمه ګرانې
ډېره ښکلې ښکارېدلې
خوږې ډېر کلونه تېر شول
د برفي هغه کاغذ دې راسره دی
سل چرګان یو څو غوايي پکې لیکلي
چې دا ماته کړه حلال په مېلمستیا کې
خو ته کومه خوا یې تللې
را پیدا شه را پیدا شه
چې زه ځان درته قربان کړم

نه نه مه راځه دې چم ته
اوس د ژمي په موسم کې
د انګار خپکې اوري
اوس د چم د پېغلو ښکلي سپين مخو نه
د بارود په لوګي تور دي
ډېر زلمي دلته شېر ينې
په لمبو باندي ژوندي ا لېيل شو ي
د برفي کاغذ دې اوس هم
د تعويذ په څېر په غاړه ګرزومه
ماشومتوب را يادومه
رنې اوښکې تويومه
۲۰۱۱ طايف، سعودی عربستان

—

راشـــه درتېنګـــه مـــې کـــړه غېـــږ کـــې مســـافر لالـيـــه
خـــرپ د مچکـــو مـــې لـــه منځـــه د پېزوانـــه باســـه
چـــې لـــونګين مـــې درنـــه پـــرې نهشـــي ريحانـــه ګلـــه
لـــږ مـــې ســـوکه ســـوکه لاســـونه لـــه ګرېوانـــه باســـه

# ګونګه ورا

د شپې ښکلا ، د اسما ن میرې !سپو ږمۍ !
د شپول په شال کې لکه ناوې راغلې
ستوري ورابانيي بدرګه درسره
د غره په اس دې د نرۍ وریځې جلب نیولی
لږ نوک نیولې شوې ته
زموږ د کلي د باغ
شنه چنارونه څارې
غوا ړې چې زه دې د واده په شوخو شوخو ټپو
د چنارو له منځه ولمانځمه
او ته د لمر د زوم ترکوره په خندا لاړه شې
خو ته خبره نه یې
وخت زما ستوني کې ټپې ګنډلې
چنار په پونده پونده
دی ټک وهلی د بارودو لړم
له ډېره درده نه یې پا نې تو ی

د نرګس کسو کې سپرغۍ پرتې دي
د تاک لاسونه په اوږو کې پرې دي
د شدوپۍ چیغو فضا اخیستې
د زړه ټوټې یې د سینځلې شاخ کې لولپه شوې
غوټۍ د زړه په وینو تکه سره ده
د ګل په غېږه کې یې سر ایښی دی
وروستو سلګو نیولې
د ګل له سترګو د شبنم د وینو څاڅکي رغړي
د تریخ لوګي چوبړیو تربته کړې چینه
نور د کمره له ښېخه نه خوټېږي
هغه جوړه هغه ماشوم همزولي
هغه جلکۍ او ژړکۍ
چې به یې غواوې، وزې ګډې پیوې
اوس دلته نه رادرومي
ځکه د پولې ډډه
له شنو سیندیو تشه
د غاټول لپه له انګاره ډکه
او د شوتلې د ګل ټیک سوزلی

مهین بنګړي یې د ډنډ را ایره دي
زما د سندرو په اوربو سپره ده
د دغه باغ د ویر ماتم جنازه
ته که د لمر د زوم تر کوره درومې
یوه غوښتنه لرم
هسې نه شي درپسې
د چا شهیدې او زخمي ښېراوې
نو د وریځو د غه تور پړونی
له ځانه تاو راتاو کړه
د ستورو ګونګه ورا کې
کرار کراره د سپېدو د کلي لاره وهه

۲۰۱۱ طایف، سعودی عربستان

# ڤلــوريزي

## زړوکی

زوی یې ترکوره وهلې کوکي
سر ورمات کړی یو همزولوکي
خواره مورکۍ یې له ډېر غربته
ورته پټې ژدې پرې د زړوکي

## د حجاز شګې

د فراق ورځې، د هجر شپې دي
په غم لړلې، تږولې شېبې دي
مړی مې یوسئ، سړې سروضې ته
د حجاز شګې، ډېري تودې دي

## خوږده

د مینې رنځ یم، اشنا نیولی
زیارتي حسن ته دې راغلی
خوږدې د شونډو درخخه ورمه
بند د کوڅیو تر لاس پېچلی

## رمه

شپونه رادرومه رمه دې داړي
ژوند یې ولاړ دی، د ګور له غاړې
لېوان دي کېږ ته رارسېدلي
اوزې او مېږي، وهي رمباړي

## کورت

چې باغ ته راغلې سپينې کوچيه
په مخ دې زانګې تورې کوڅيه
زه به دوه پاوه، زردالو درکړم
راکوې کورت پرې او که خولګيه

## د ځګي شونډې

بمو بارودو، سوې ورشې دي
که ګلکڅونه او که مرغې دي
غواوې مو ټولې په زړې لوغ کې
د ځګي شونډي سپېرې سپېرې دي

## زېرى

مېوه به وېشم زه په سندرو
په ماشومانو، په بېر سرو
چې په انګړ مې، کجيران ګرځي
زېرى به راشي، د مسافرو

## کلکته

له کلکتې به، وي راوتلى
برساتي زوى مې پرد بس خوړلى
نژورې راشه چې دې نن ښکل کړم
ستا چې سترګې، زېرى نيولى

## د بم څپړه

شوه له غونډيو هسکه لوخړه
شپانه خوړلې، د بم څپړه
په غورېږه کې مچړو غزه زانګي
لاندې په وينو شپېلۍ ککړه

## د سپېلۍ شپه

د سپېلۍ شپه ده توره تياره ده
ټولۍ د رويو په بام سپره ده
هر يو وګړی زبون وهلی
د ډار خپسه په چم خوره ده

## مشکني

د غره پانړونه د زرکو غاړې
د کلي پېغلې مشکني څاڼي
تر شنو غونډيو کړي طوافونه
ګېدې ګېدې يې له خدايه غواړي

## د غمونو چينجي

دا چې مې وينې ته زېړ زبېښلی
په رنګ سپېره ی په زړه نتلی
فقط يو وازې ګرانه وطنه
ستا د غمونو چينجي څټلی

## ليکه

وايي د کلي، ليکه راغلی
چا په کې ګرګه، بازو نيولی
د کونډې يو زوی، له هسکه پاڼه
خړو اوبو ته، ورغورځېدلی

## د لمر تنور

د لمر تنور دی ،په غره بليږي
په کې د واورو ، اوړه پخيږي
دا سره پاڼونه لکه سره پاستي
چې غلي غلي، راجو تيږي

## سندۍ

ده له شنو پولو سندۍ راوړې
ماشومې ګوتې، په خاورو خړې
اوس به یې ځار کړي د ترور له سره
چې ترې نه راوړي چکۍ د ګوړې

## د غره لمنه

د سپینو واورو، له دې بېلتونه
د شنو ډېرو له زړه چاودونه
د غره لمنه لمده، په اوښکو
له خولې یې خېژي تاوده اهونه

## وړانګین لښکر

رارسېدلی وړانګین لښکر دی
د سترګکونو ښکلی منظر دی
غمې د پرخې په کې ځلیږي
شین تاج د ترخو غوندۍ په سر دی

## تالنده

تالندې ډول ته چې ثاڅکي ناڅي
د ټکو کریژي له غرونو پاڅي
کټوري واړه له اوبو ډک شي
جړي باجړي بامونه ثاڅي

## ميره

د سترګو تورې، د زړه ټکورې
لږ رانژدې شه، د ښکلا مورې
خولګۍ دې اخلم تر څڼو لاندې
مور دې ميره ده، بيا به دې ګورې

## برېځر

خټين يې کلي خټين کورونه
چې برېځر شي بل تنورونه
بوی د شوديارو دهقان ته ورشي
په هره تېغنه، وي بنګارونه

## خټې

وريځې خورې دي، جړي باجړي
لارې کوڅې دي، په خټو خړې
ملا روان دی، د جومات لور ته
سپينې پايڅې، يې دواړه ککړې

## چارقل

په غرونو لړې، دي ګړدلې دي
لېوان راغلي ګلې دي
کار د مچړوغزي کوچيه نه دی
چارقل دې وايه سختې شيبې دي

## د اوښکو رمې

ژوند مې د دښتې و خوا ته بیایم
چې په خلوت کې دې نامه ستایم
در څخه غواړم ګریوان شلېدلی
رمې د اوښکو چې په کښې پیایم

## خورجین

ګرمه خوله یې له آسه څاځي
وحشي سرخي یې له سترګو پاځي
ښایي خورجین یې له سرو ډک دی
پرې معلومېږي د وینو پیاځي

## مست زلمي

نه مست زلمي شته نه اتڼونه
نه غوړي ثڼي نه درمندونه
نه (ورګی) پاتې او نه یې ډول شو
نې ازانګې اوس لګي په غرونه

ورګی زمونږ د کلي ډولچي و ، ډېر مست ډول به یې واهه

## بسته زینونه

بسته زینونه دې په اسونو
غشي پراته دي په کمانونو
کمی د تورو او زغرو نشته
په هره مېنه په رباتونو

## جنازه

بوډۍ ګنده ده، چې داسې غورځي
پېغله چوتره کې، پړمخي پرځي
جنازه ایښې، د یوه ځوان ده
پاس په هوا کې، چورلکه ګرځي

## د اوبو غړپ

د چا په یاد یم، چا یم بللی
یا خو په زړه کې ورګرځېدلی
د اوبو غړپ مې ستوني کې نښلي
د ژبې اړخ مې په غاښ ټوکلی

## د زړه غر

په کې چاودلي دي خروارونه
د زړه په غره مې د غم بمونه
برغۍ د سترګو شوې ورنه پاتې
سویان د اوښکو وهي ټوپونه

## سروضه

د غرو په منځ کې یوه دره ده
په کې پرته مې ښکلې سروضه ده
تړون مې داسي ورسره شوی
زه یې ساحل یم دا مې څپه ده

## چورلکه

تري لاندې پټ يې چې کلېمشته
چورلکه ګرځي په دې اوبشته
شي به يتيمه برګۍ رمه دې
مرګۍ راغلي خلاصون دې نشته

## ترخې

تل په هوا کې چورلکي څرخي
تري نه را اوري د بارود پرخې
دي په برغۍ کې سويان بې حاله
زهرو وهلي دي شنيکۍ ترخې

# ماښام

ماښام په ورو ورو رانزدې کېږي
د کلي اوړکي بامو ته خېژي
په لاس کې بلې، یې چورچوړۍ دي
د چم فضا کې لمبې نثیږي

# ثیله

د ثیلې ورځې په سړوخي کې
نو شور په بڼ کې نه په لشتي کې
د اوبو ژبې کنګل کنګل دي
چوپه چوپتیا ده په جور جوړي کې

## للمي

وخت يو شيندلي چېرته په شاړه
لږ مو اسمانه په حال وژاړه
تک زېړ زبېښلي لکه للمي يو
وچه په ستونو کې مو ده لاړه

## کوچۍ

وړه کوچۍ ده په چيغو ژاړي
ګوتي يې پرې دي په زرګو واړي
بابک يې راغی ورته په منډه
له زوړ پټکي نه باسي ريتاړې

# د کور مېرمنه

د کور مېرمنه ده قهرېدلې
دا سې ښیرا کړي څښتن کوتلې
چرګو پسې یې جارو راخیستې
دروشته یې ټوله ورته شیندلې

# خولګۍ

په بیره بیره چې ستنېدلې
شوې یو ناڅاپه پښه نیولې
په لندو شونډو دې څپک کښود
چا درنه چل کې خولګۍ څټلې

## جولۍ

زرغون کميس دې جوړ له جولۍ ده
په ټټر ايښې دي يوه چولۍ ده
مريو تراټه له نامه پاسه
ټينګه دې غوټه تر ملا نرۍ ده

## مسافر

مسافر يار مې په زړه وريږي
نن يا سبا به را روانيږي
د چای ګيلاس کې شمه ولاړه
بل مې له شکوره اوړه تڼيژي

# پردی وطن

پردی وطن دی سترګې نمناکې
په پرې لستونې خولې کړم پاکې
سخته ګرمي ده پردی مزدور یم
کله نا کله پوکم تنهاکې

# تازي

ایله چاودلې دا اوس سپېدې دي
څه کوټې کوټې واورې پرتې دي
سورکی تازي مې کړکۍ ته غاپي
وایي را ووځه د ښکار شپې دي

# شپونکی

ستړی ستومانه سپېره له رنګه
دی راکوز شوی له لوړ ګړنګه
شپونکی هوار شو په چینه پړمخ
څومره مزه که دا غړنګه غړنګه

# ورا

د ورا په مخ کې خم ګډېږي
د امسا څوکه پاسه جګېږي
ښاپېرۍ واره دې غاښ په ګوته
د زوم نیکه دی را مالومېږي

## د لاړو پرخه

که مې راڅوړند کړې له څرخه
ارو مرو نن، وځم له نرخه
هر څه چې کيږي، په کليوالې
پرېږدم په مخ دې، د لاړو پرخه

## شين تار

تل په کوڅه کې، يم نوک وهلی
پړمخ په ځمکه، راپرېوتلی
لېونۍ شوې، مې غټه ګوته
مور مې ترې ځکه، شين تار تړلی

## د سپوږمۍ ناوې

د سپوږمۍ ناوې، ستوري ورابانې
لمدې په اوښکو، دې سرې ګلپانې
په شنه جولۍ کې، ثبېرۍ ګډېږي
په خړ څادر کې، خپه دې کانې

## لينده

لنيده په غاړه، جوب کې ډبرې
وايي له ځانه، سره سندرې
غره ته روان دی، يو څه به ولي
يا خړ کربوړي يا سره تنزري

## شړومبی

د چم شو دیارې، تو دې غرمې دي
برګي غوايي دي، شروع قولبې دي
سیوری د ونې، خپ د ګډلي
غړپ يې مزه کا سړې شړومبې دي

## د ثبلۍ شپې

د ثبلې شپې دي، په غم لړلې
د مرګ ثپکي راورېدلي
وطن د واورو کفن اغوستی
د وحشت روې دي راوتلې

# دېګدان

نن یې لوګی دی په دېګدانه کې
د کور مېرمنه ده په غوسه کې
چا به پرې خرخه لنده ښېرې وي
سترګې یې غبرګې له اوښکو ډکې

# د سولې کوترې

د هر سپېڅلي، زیارت په رغولي
له سترګو شیندم د اوښکو شولي
خدای مهربان دی له یوې خوا به
راشي کوترې د سپینې سولې

## نیمژوانده توري

بس توري، زغرې، غشي، نېزې دي
الهام شهيد دی، زخمي کوڅې دي
خيال ته مې راشي، نیمژوانده توري
مسرې مې ځکه، په وينو سرې دي

## کڼه دنيا

ګرېوان مې سوی ورکه تڼه ده
وخت راپښو چې د اور پڼه ده
مرۍ مې وچه وچه پرې کېږي
چيغئ مې ناوري دنيا کڼه ده

# همزولي

دواړه همزولي ماشومان خاندي
ناست د شوتلې په پوله باندې
دی له ډنډر جوړ مهين بنګړي کې
دا کړي په مينه لېښې ور وړاندي

# پلو

که غېږه ورکړې ثومره به ښه شي
چم د پښتو دی داسې خو نه شي
پرد بس لالي ته له لري ګوري
غلچک غلچک يې تر پلو کسي

## مجنون

کله دربږم کله ثملم
ستا د نوم توري په زړه کې لولم
زه دې مجنون يم ته بيابان يې
څومره چې درومې درپسې ځغلم

## ګرانه وطنه

ګرانه وطنه د ګلو باغه
د زړه په ګل مې د مينې داغه
چوپې چوپې دې درباندي ګرځي
زه به دې ساتم له کومه زاغه

## منصور

عقل او هوش دې راخخه چور دی
ورک دې په ذات کې لکه منصور دی
ستا د یاد پاستي اوس پرې وهمه
زړه مې لمبې کړې لکه تنور دی

## شبشنی

باد په نڅا کړې د چنار پاڼې
مازیګری دی بادیړي واڼې
د دهقان لاس کې څلور چاخۍ ده
شبشنی رادرومې د مستي بیاڼې

# مسافر

وړوکی زوی یې د زړګي سر دی
په پردۍ مېنه ترې مسافر دی
نې مور یادېږي نه پسې ژاړي
وایي په خوله کې ورکړې لاړې

# د زړه درمند

ستا شوخ یادونه د کلي کړاڅي
زما د زړه په درمنده ناڅي
خواږه دردونه کړي رابرسېره
اوښکې مې ورو ورو له سترګو څاڅي

## شمال

شمال دی ښوري د چنار څانګې
په کې تالی خوري زرینې وړانګې
سترې ستومانه پولې ته پروت یم
زړګی مې پورته پورته وردانګي

## تعویذ

د تورو زغرو کړي تعویذونه
بیا نو د پیروي داسي شرطونه
پټ یې د وینو په سرو جامو کړئ
په نظرانه کې راوړئ سرونه

## پردېس زړه

روڼه یادونه دې لکه ستوري
زما د پردېس زړه په ماښام اوري
خوب ته پرېږدي مې نه، تر سهاره
ډېر دي سرزوري، ډېر دي سرزوري

## ښکلا

ښکلا ښکلا دې غزل شي
درسره مینه مې یو په سل شي
که بې له تا به بل ښکلی ګورم
په سترګو کې مې دې ګل شي

اودس د اوښــکو پــه اوبــو کــوو پــه شــپه لمونځونــه
تــړو د عشــق د رکــات نیــت کــوو لــه زړه لمونځونــه
ســتا دې تنــدي پــه خــال پســې مــو اقتــدا کــړې ده
لکــه بانــه کــړو د لېمــو پــه مصــله لمونځونــه

----

مــزه د شــعر شــعر د زګېرویــو لــه ســتاره راځــي
زګېــروی لــه څړیکــو نــه او څړیکــي لــه پرهــاره راځــي
پرهــر لــه مینــې نــه او مینــه لــه ښــکلا رازېــږي
ښــکلا د رمــز د اســرارو لــه دیــاره راځــي

سترګې یې له اوښکو ډکې زړه را پسې وشيندي
ځم چې په سفر ترېنه لېمه را پسې وشيندي
يو موټی اوربشې نه وي، ستړې ستړې وګرځي
ورسته مې غريبه مور اوبه را پسې وشيندي